



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعلان

گرانو او قدرمندو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډېره خواري کړې ده او په ډېر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډېر سخت منع دي

پښتونستان

پښتو ډاټ نیټ

Presented By : Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوق محفوظ دي

---


د کتاب نوم ——— گل پانړه

ليکوال ——— علي خېل درياب

کتابت ——— لطف الله پښتو اکيډيمي

د چاپ کال ——— جنوري سنه ۱۹۹۹ ء

د چاپ شمېر ——— پنځه سوه

ترتيب ——— عرفان خټک

بيعه ——— ۵۰/- روپيه

خورونکی :-

هميشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده ره

د موندلو درک :-

جميل بک سيلرز مېن بازار بټخېله

---

سرپانړه - اين ايس ارټسټ تخت بهائي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تړون

د ګل پانړے په نوم
چه زما د خیالی دنیـا د
خوشبوګانو ښاپیرۍ دۀ

دریابؔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| پېش نامه | هیش خلیل | ۶ |
| کوزه کښې سمندر | ډاکټر محمد اعظم اعظم | ۱۱ |
| ګل پاڼره | ډاکټر اقبال نسیم خټک | ۱۶ |
| د غزل رنګ د افسانې په کاله کښې | میاں فضل الرحمان شاهد | ۲۲ |

| | سرخط | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | خاورې | ۳۲ |
| ۲ | جرم | ۳۳ |
| ۳ | د کوټ میرونې | ۳۴ |
| ۴ | مات منګي | ۳۵ |
| ۵ | پردې سترګې | ۳۶ |
| ۶ | ناڅاپه نه ربانډې بلا بلا راورېږي | ۳۷ |
| ۷ | ماده پرستي | ۳۸ |
| ۸ | ناښه ولې جذبې | ۳۹ |
| ۹ | یقین | ۴۰ |
| ۱۰ | نورې | ۴۱ |
| ۱۱ | متهیزه | ۴۲ |
| ۱۲ | د زړه ونونه | ۴۳ |
| ۱۳ | پښتانه | ۴۴ |
| ۱۴ | برنډه خاموشي | ۴۵ |
| ۱۵ | لېبرل ماښټېلرډ | ۴۶ |
| ۱۶ | شاپېرۍ | ۴۷ |
| ۱۷ | نوې به تو مله | ۴۸ |
| ۱۸ | لوټيا | ۴۹ |
| ۱۹ | بحالي | ۵۰ |
| ۲۰ | ذره پاڼره | ۵۱ |
| ۲۱ | بدل | ۵۲ |
| ۲۲ | کاڼې | ۵۳ |
| ۲۳ | بې عملي | ۵۴ |
| ۲۴ | پوله او چتاناره | ۵۵ |
| ۲۵ | حرمونې | ۵۶ |
| ۲۶ | ګرپک ګل | ۵۷ |
| ۲۷ | پرتو غایتي | ۵۸ |
| ۲۸ | پیسې | ۵۹ |
| ۲۹ | اعتماد | ۶۰ |
| ۳۰ | خرکند لیونې | ۶۱ |
| ۳۱ | متهاکي غوز | ۶۲ |
| ۳۲ | نوکري | ۶۳ |
| ۳۳ | باور | ۶۴ |
| ۳۴ | غانړکي | ۶۵ |
| ۳۵ | تله | ۶۶ |
| ۳۶ | انړیواله | ۶۷ |
| ۳۷ | د ناره رنړا | ۶۸ |
| ۳۸ | ورورۍ خوري | ۶۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | تپوس | ۷۰ |
| ۴۰ | زړه غوښې | ۷۱ |
| ۴۱ | بکو و باباجي | ۷۲ |
| ۴۲ | حرام | ۷۳ |
| ۴۳ | ګناه | ۷۴ |
| ۴۴ | ؟ | ۷۵ |
| ۴۵ | روريد لے بياسته | ۷۶ |
| ۴۶ | چيندړه | ۷۷ |
| ۴۷ | ورخته | ۷۸ |
| ۴۸ | شپلونه | ۷۹ |
| ۴۹ | خيوته توليه | ۸۰ |
| ۵۰ | ميراته کونډه | ۸۱ |
| ۵۱ | بے روزګاري | ۸۲ |
| ۵۲ | جوارګر | ۸۳ |
| ۵۳ | I miss you | ۸۴ |
| ۵۴ | ژرنده | ۸۵ |
| ۵۵ | شتالان | ۸۶ |
| ۵۶ | مذهب که مينه پښتو | ۸۷ |
| ۵۷ | قاتل څوک دے؟ | ۸۸ |
| ۵۸ | توپير | ۸۹ |
| ۵۹ | MENSES | ۹۰ |
| ۶۰ | شين خالي | ۹۱ |
| ۶۱ | قادر | ۹۲ |
| ۶۲ | ډتوبے بورجل | ۹۳ |
| ۶۳ | تعليم | ۹۴ |
| ۶۴ | ابليس | ۹۵ |
| ۶۵ | حوالدار فاتح رحمٰن | ۹۶ |
| ۶۶ | اُستاد جي | ۹۷ |
| ۶۷ | تهوپک ملنګ | ۹۸ |
| ۶۸ | توخے | ۹۹ |
| ۶۹ | کرامات | ۱۰۰ |
| ۷۰ | نامه | ۱۰۱ |
| ۷۱ | ايمل خان کانسي | ۱۰۲ |
| ۷۲ | مسلمان | ۱۰۳ |
| ۷۳ | Masterkey | ۱۰۴ |
| ۷۴ | کفاره | ۱۰۵ |
| ۷۵ | پيتان اکا | ۱۰۶ |
| ۷۶ | انسان | ۱۰۷ |
| ۷۷ | کورنۍ خصلتونه | ۱۰۸ |
| ۷۸ | سکندر | ۱۰۹ |
| ۷۹ | ميلمه | ۱۱۰ |
| ۸۰ | ممتاز | ۱۱۱ |
| ۸۱ | دُنياليونۍ | ۱۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیش نامه

دقلم په ژبه د یو زلمي لیکوال دمشاهداتو او واقعاتو دا نتیجه خیزه ادبي مجموعه هغه لفظي تصویرونه دي چه که یو مصوّر ئے د بُرش او رنګونو په تعاون د روایتي تصویرونو حقیقت ته ورسوي نو یو داسے البم به ترے جوړ شي چه هر نقش به ئے دخپل پس منظر په خاموشه ژبه دمعاشرے د دردناکو، حسرتناکو او عبرتناکو المیو یو نهٔ ختمیدونکے داستان راواسپړي.

دعلي خېل دریاب دنګارخانے دغو المناکو لفظي تصویرونو ته چه ګورم نو هر یو دخپلے خپلے افسانے هغه عنوان دے چه تفسیر او تشریح ئے دپخوانو ځنو حکیمانو او فلاسفرانو هغه اقوال دي کوم چه معنوي هم پخپله خپله زمانه دخپلے خپلے معاشرے په تنه بوده کښي ددغه قسمه واقعاتو له محسوسولو نه پس رقم کړي وو. ځکه نو د "پښتانهٔ" په نوم دبناغلي مصنف لفظي تصویر که یو مصوّر په رنګونو منجمد کړي نو د امام غزالیؒ او هربرټ سپنسر د اقوالو دغه کیپشنونه به ورسره مناسب ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښځو کښې یو قسمه کمزوري ده چه علاج ئې تحمل دے"

(امام غـــزالیؒ)

" د ښځې زړهٔ د هغې په ذهن بادشاهي کوي ."

(هربرټ سپنسر)

## ژړنده :-

د دغه عنوان لفظي تصویر ته که چا فنکار د خپل فن د رنګونو بناښت ورکړو . نو کیدے شي چه د "بـکون" د قول داکیپشن ورسره هم ښه ومنی .

" ترکومه چه یو انسان د بل انسان په سپ سور دی . دنیا کښې به امن محض یو خوب وي ."

## پرنده خاموشي :-

د موجوده دور د سیاسي مجبورو او بے انصافو هغه المیه ده چه که په صوري رنګ کښې پیش کړے شي نو د هربرټ سپنسر د دغه قول دِ ورلاندے اوییکی .

" د نهٔ حقدارو خلقو د پاره د حقدارو خلقو حق وهنه نهٔ صرف د انصاف په مرئ چاړه راښکل ده بلکه دیده او دانسته د اشده نسلونو په لار کښې اغزي کرل دي . او هم دغو نسلونو د پاره د دے نه لوئے افت او غضب نهٔ شي کیدے چه ورته کښې ورته نالائقه خلق پریږدي ."

## ماڼۍ :-

داکه چا سنګتراش وتراشله ، نو د اسکر وائلډ دا قول دِ ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراشل هم نهٔ هیروی .

" د زمانو رابسے دولتمند و د غریبانانو د بغاوت د مخنیوئ دپاره دا مؤثره طریقه راویستے ده - چه د غریبانانو د کټے وټے لږه شان برخه دوي ته د خیرات په شکل واپس کړی . "

## جرم :-

د دغه عنوان مفهوم کهٔ د مصوّر د آرټ په برکت تکمیل شی. نو د ډرائنګ روم په دیوال د زښت کولو وړاند ے "بیکن" د قول دا الفاظ ډِ هم ورلاند ے ویکلے شی .

" د دولت پریوانی د ځوانئ تباهی ده "

## مات منګے :-

د کشمالے مات منګی ، نونګ ته ځهٔ اوو ے؟ شاید دا چه

" سر ځار شه له عزته "

خو د امام غزالی" دا قول ډِ هم ورسره شی چه .

" طبیعی شهوت په انسان او حیوان کښے یو شان وی - خو وضعی شهوت انسان کښے صرف په تهٔ تربیت او بد صحبت زرغونیږی "

## بے عملی :-

په قول د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه

"عمل بے علمه عیب ژن او بیمار د ے او علم بغیر د عمل نه شنړ او بیکار دهٔ . "

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تله :-

د علي خيل دریاب دا دردناک تصویر شاید چه د هغه د نګارخانې شهکار ثابت شي ۰ او د دغه حسرتناکه تصویر لاندې د ویکیتر هیګو د غه نادر قول شاید چه د تماشګیرو په زړونو او ذهنونو کېنې د یو انقلاب سوب شي .

"هر کله چه انسان د پیدائش په وخت او بیا د مرګ نه پس هم مساوي دے ، نو آخر ولے دے د ژوند میا نځنۍ موده هم مساوي نتېره نهٔ کړي ؟

## تپوس :-

جمیل نه د ممانړے دا تپوس که یو خوا د ماشومے سپړغ د دردونو د علاج آرزو ده ، نو بل خوا د جمیل مفلسئ او غربت د هغې په آرزو د بے وسئ پخے . او به توئے کړے ۔ د بناغلي دریاب د دغه تخیّل جامد تصویر سره د برناړ شا دا الفاظ په زړی سیاهئ د یکلو دي .

"دنیا کښې د تولو نه لویه او بدترینه ګناه غریبي ده . نور ټول ګناهونه د غربت په وړاندے کوچنۍ نیکئ دي".

ګرانو لوستونکو !

ما د قلم په ژبه د بناغلي علي خیل دریاب د څنو تحریري تصویرونو خاموشه آوازونه ستاسو ترغوږو کړه . باقي پاتے

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویرونه او د حال په ژبه د هغو داستانونو ته تاسو ځینې
وګورئ او واورئ .

خو د فرینکلن دا قول هم یاد لرئ چه

" ډیر داسې دردناکه واقعات شته چه د
افسانې جوړیدلو نه وړاندې محو
شي . "

همیش خلیل

۲۳ ر ستمبر ۱۹۹۷ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوزه کښې سمندر

په اول ځل د علي خېل دریاب د نوم په اورېدو سره زما په تصوّر کښې یو پراسراره کردار او بریښېده . خو چه راڅرګند شو نو د پېښور پوهنتون د پښتو شعبې یو عام ساده ټټه ناک او خاموشه ځلمی وو .

رو سته د هغهٔ د خبرو اترو او لیکونو نه دا حقیقت راڅرګند شو چه دریاب د ډیر تېز ذهن او ځلانده تخلیقي صلاحیتونو څښتن دے . دغه په زور چه هغه په نثر او نظم دواړو کښې د خپل عمر نه ډیر زیات ښهٔ لیکونه کوي او په دے کښې هیڅ شک نشته چه هغه په ډیر کم عمري کښې خپل ځان او خپل صلاحیتونه خپلې ژبې او ادب ته سپارلي دي - او هم د دغه لیونۍ مینې او لیونالۍ جذبے په دوړ د هغهٔ په لیک کښې د یو خاص قسمه تازګي ساده ګي او خود اعتمادي په یو ځائے لیدے او موندے شي .

څه موده وړاندې بناغلي دریاب ما ته خپله یو نثري مجموعه راکړه . په دے خیال چه زهٔ هغه د کورم او په هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې څه وهم نیکم . او دا دواړه خبرې ماته په دې ګرانې
ښکاري چې د علي خېل دریاب ته وړاندې هم د هغه د کهول دیو
ټولو زلمو کتابونه ماته هم په دغه غرض پرانیته دي . خو د
دریاب ته هغه مې ګران دے او بیا چې په چا ئې لار وي
نو خبره نوره هم ګرانه شي . او حقه خبره دا ده چې علي خېل
دریاب په ما ډیر ګران دے . او هم له دے کبله چار و ناچار
م د هغه "ګل پاڼړې" کتاب او په مخې څه لیکلو ته غاړه
ورکړه .

د بناغلي دریاب د دے نثر ټوټو په کتلو زه په دیو
عجیبه دوجاله کښې راګیر کړم . دا دواړه کوچني کوچني لیکونه
که یو خوا اثرناک او عبرتناک دي نو بل خوا حیرتناک هم
دي او د حیرانتیا خبره دا ده چې دا په پښتو ادب کښې ښځي د
یو نوي صنف د قیصي شکل دے چې نامه یې ورله موږ
پخپله خوښوو .

بناغلي دریاب د خپل چاپیرچل د روان ژوندون ته واړه
واړه واقعات ، امروزه پېښې ، پارسېدلي تاثرات ، هوار او
ناهوار کردارونه او د تجسس ننه د کے مشاهدے راټولے کړي
دي او هغو له ئے د افسانچو شکلونه ورکړي دي . تکنیک ئے
د لنډے افسانې ښکاري . .. ولے بیا هم که افسانه ورته
نه شو ویلے نو د افسانې مینه پورے ماتېږي . ځکه چې دے
کتاب کښې موجود ډېرے واقعے او ص تاثر یا هر مشاهدے

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام څه په داسې ډول کيږي چه د لوستونکي ذهن ته
ارومرو خپل اثر اخلي او بنده په دے وينا مجبوره شي چه
دریاب په کوزه کښے سمندر بند کړے دے .

د علي خيل دریاب د قيصو دا شکل که زمونږ په
ادب کښے خپل ساري لهتوي . نو ذهن د عبدالقادرخان خټک
په ګلدسته بانده تيکا وے کوي . " ګلدسته " د فارسي
ژبے د نوموړي نيکوال شيخ سعدي د ګلستان پښتو ترجمه ده.
کومه چي زمونږ د نثري ادب په وړومبو کتابونو کښے يوه
قيمتي والئ يادیږي . او لکه څنګه چه د ګلستان حکايتونه
د شيخ سعدي د مشاهدے ، علم او فکر يوه بے بها پنګه ده.
هم په دغه ډول بناغلي دریاب د خپل چاپيرچل او خواوشا
نه داسے واقعات ، کردارونه او مشاهدے راخستے دي . او
په خوند خوند او رنګ رنګ ئے بيان کړي دي چه لوستونکے
ورته په داد ورکولو مجبور شي . زما د دے وينانه دا مطلب
اخستل نه دي چه کار چه ګني زه خپل شاګرد د سعد
غونډے د نړيځ ادبي شخصيت په مقابله کښے راوېستل غوارم
زما اشاره د دریاب د دے افسانچو اسلوب ته ده چه هغه
د بناغلي سعدي شيرازي د حکايتونو د طرز سره ډيره
سمون خوري .

"ګل پا نړے " د افسانچو انداز طنزيه دے او هره پيښه
هره واقعه او هر کردار پکښے په شعوري ډول د نيکونکي له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په څه نه څه شکل کښې د طنز توکے رابرڅيره کوي . او ټيکونکے په دے کوښش کښې ناست نه کاري چه په هر ځائے په هر څه او په هرچا څه نه څه ټک اوکړي . او په دا سے کولو کښې هغه ګرم هم نه دے . ځکه چه درياب هر څه ډوبوي د درياب نه راخستے دي او د ډوبونې حقيقتونه ډير تراخه وي . د دے ترخو کمتونو او مترو کنډ اورونو د ےمجموعے له که زه له خپله انده د "ټيکونو" نامه خوښه کړم . نو خوښه د درياب ده او فيصله ستاسو .

په دے "ټيکونو" کښې ځنې داسے هم مخې له راشي چه هغې ته مونږ لنډه افسانه ( SHORT STORY ) هم ويلے شو لکه د مثال په توګه "جوارګي"

" زما نوم زهرا دے . د شګلنے بانډے د طوطي ګل لور يم . پښتونيشت کاله وړاندے چه پلار د جوارګي په داؤ باسيلم نو کمتلي جوارګي ترډے را او رسوم مامور چه د ځکلے په برنډه تياره کښې د خپلے سکه خور پيژندګلو اوکړه نو هم د هغے په غيږ کښې په نوے خوب اوده شو."

خو د کومتلي او راغونډ پلاټ دا مثالونه په دے "ټيکونو" کښې کم دي . زيات تر په کښې تاثرات دي . خو د هغه تاثرات هم د حکمت او مقصديت نه خالي نه دي . لکه "خاورے"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښاغلی ... یا ... ښاغلی د اسپرلي وګړي وهلي سړیه! داته ګوره چې څه خاوره خوري. آنو - پریږده چې خوري کنه. زموږ په کاله کښې به د خاورو نه څه دي."

د علي خیل دریاب په دې افسانچو کښې په ځنو ځنو د اوبره جذباتیت او مبالغې رنګ هم خوړ دي - خو اکثریت یکښې د مغه قصه ګوټو دي چې هغو کښې زموږ د چاپېرچل ژوندی حقیقتونه ساه اخلي او د ښاغلي علي خیل دریاب د مقصدي سوچ او رسا فکر ګواهي ورکوي.

د زلمي فکر او ځوانو ولولو په دې انقلابي قدم زه ښاغلي دریاب ته د زړه له کومې مبارکي ورکوم - په دې چې په نړیوال ادب کښې د دې طرز د لیکوالو اهمیت او افادیت ډېر سیوا ښکاري ځکه چې د معاش په دې لوټې درز غوبل کښې د چا سره د اوږدو ناولو قصو او اوږدو اوږدو داستانونو د لوستو او اورېدو وخت پاتې نه دی او که د وړوکي لیک کښې ورته د اسې د خیال او فکر نه ماموره ځو لمحې په لاس ورشي نو دا هم غنیمت دی.

ډاکټر محمد اعظم اعظم

پېښور پوهنتون

۱۱ فروري ۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګُل پاڼړه

د قیمتي د اوریدلو او د قیمتي د اورولو فطري خواهش دانسان په خمیر کښې ځائي اغیزلے شوے دے - دقیمتي د اوریدونکي ترهغه پورے تسکین نهٔ کیږي ترڅو چې ئې پوره قیمتي بنهٔ په توجه سره اوریدلے نه وي او د قیمتي راوي ترهغه پورے د قیمتي مزے دلاس نه نهٔ پریږدي ترڅو چې ئې قیمتي سرته رسولے نهٔ وي او داځے وئیلي نهٔ وي چې

" زما مسئله تیره بیره ددین کتور ے ډکي

راوي د اوریدونکي نه دخپل زړهٔ رابښکوني انداز بیان د حافظے دکمال او دژبے دخوږوالي داد وصولول خپل حق ګڼړي او د اوریدونکو له خوا دغه داد د راوي انعام هم وي او صله هم۔

نو دادمغه وخت خبره دي چې دخلقو څخه د فرصت کیے نهٔ وو ـ په مغوئ کښې مینه وه ، اخلاص وو او زړهٔ خوږي وه ، حجرے ، جماتونه او کور دروسنه اباد وو ـ خلق به بلا ناغه دماښام

---

ګلونو پانړے بویه چه قمیص شي د ملوکے
دورینبمو د قمیص ئے نازک بدن ملول دے (خوشحال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دډوډۍ نه پس حجرے ته تلل او بیا خاص طور سره په ژمي کښې خو به ئے ترنیمې شپې قصه‌گو ماما ته غوږ نیولے وو. دغه شان به چه قافلے په اوږدو سفرونو تللے، نو سخت او اوږدۀ سفرونه به قصه‌گویانو د قصو په جادو اسانول او رالنډول. په دغه قیصو کښې به زیاتے قیصې د مافوق الفطرت عناصرو نه ډکے وے او واقعات به ئے د انساني پوهے نه بهر وو.

ډرونډ کاږے چه څومره مخ په وړاندے تلو وخت رالنډیدو نوے نوے مسئلے راڅرګندیدے او نوي ضروریات راوړاندے کیدل او خبره دے ته راورسیده چه د وخت دکمي احساس او د ژوند بے شمیره ضروریاتو د انسان ذهني او بدني سکون اولوټلو - د نوي دور د انسان سره دومره فرصت چرته دے چه په ورځو او شپو هفتو د ناست وي او اوږدۀ اوږدۀ داستانونه د اوري.

په مغرب کښې په دغه قسم قیصو کښې مرچ مصالحه کمه کړے شوه، رنگ روغن پرے او خیږولے شوه او د ناول نوم ورکړے شو او بیا د ناول نه لنډه قیصۍ را اوزیږیده - خو د پښتو معامله داسے نۀ ده. په پښتو کښې لنډه قیصۍ د ناول نه روميے راڅرګندیدے ده او هم د خپلے خاورے پیداوار دے.

پښتو کښې د افسانے عمر ډیر کم دے او که مونږ ښاغلي راحت زاخیلي د پښتو افسانے امام او منو نو د افسانے عمر د اتیا کاله نه څکښته نۀ ځي ځکه چه "کونډه جینۍ" تر اوسه د پښتو رومبۍ افسانه منلے شي چه راحت زاخیلي صاحب په کال ۱۹۱۷ء کښې لیکلے وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کال ۱۹۱۴ سنه نه تر کال ۱۹۳۶ سنه پورې د افسانې رفتار پښتې نه سُست بلکه د نشت برابر دے - البته د ازادئ نه پس پښتو افسانې ته توجه مرکوز کړے شوه او ښه ښه افسانه نګاران او افسانو لیکونکي میدان ته راغلي دي او په هره موضوع ئې افسانې لیکلي دي - اکثرو افسانه لیکونکیو په افسانه کښې د ژوند مسئلي بیان کړے دي خو د روایاتو نه بغیر ئې قدم نهٔ دے ایښے خو بعضې افسانه نګارانو د جنس او ښځې مسئلې ته زیات اهمیت ورکړے دے او هم دا د صنفي د فن مقصد هم دے او معیار هم.

په پښتو کښې چه کوم افسانه نګار مختصره افسانه په مختصرترین شکل کښې په کامیابئ سره او لیکله هغه ارباب رشید احمد خان دے چه "انګازے" په نوم ئې خپله مجموعه چاپ کړه اګر که په دغه افسانو کښې د تحیّر احساس ( Suspense ) ډیر زیات دے خو د تحیّر د احساس نه بغیر افسانه د معیار نه پاتې کیږي - خو د ارباب صاحب تقلید چا هم اونهٔ کړو - او شاید دغه منفرد انداز صرف د ارباب صاحب برخه اوګرځیده.

ښهٔ مې یاد شي چه ما د فرورئ ۱۹۶۵ سنه یا اغلباً ۱۹۶۶ سنه د زیارت په یو مازیګر خپل یو محترم استاد چه د سکول هیډ ماسټر وو او د دوه خواږه ملګری د میلمستیا په خاطر ځان سره روان کړل. د سکول نه په سویل په شنو پټو کښې پیاده تګ ډیره مزه کوله خو اسمان سترګې ښځې نهٔ غړولے. ساړهٔ لحظه په لحظه زیاتیده او دومره کله چه مونږ یو ښار خوړ ته راورسیدو نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه افسانچو په ژبه کښې چه کوم خبرې

شي بيانولے ئے نهٔ شي . دکل پانړے افسانچے دايمائيت، علامتي انداز او دپښتني چاپيرچل ښکلے نمونے دي . دشمس په څو ټکو کښې دومره غټې واقعات او پرانستي رازونه بيانول څه اسان کار نهٔ دے . دا سے ښکاري چه پښتو افسانه دکمپيوټر په دور کښې ذور داخلولو داړومبئ کوشش دے او راتلونکي نسلونه به ښاغلے علي خيل درياب ددغه اختراع امام ګڼړي کوم چه دده حق دے .

دښاغلي علي خيل درياب افسانچے دنثر دے افسانے مختصرترين شکل دے دا بيخي يوه نوے لاره ده . روبئ که وره ده، په تول پوره ده . په دے کښې هم هيڅ شک نشته چه دهر نوي کار سره هم کيږي او مخالفت هم . خو دکار خلق ددے خبرو پروا نهٔ کوي هغه د غالب خبره چه

نه ستائش کی تمنا ہے نہ صلے کی پروا

خوشحال بابا څه د مطلب وينا کړے ده . سه

دجاهل په بخره تش سربنوول دي
آفرين رم په خبرو دانشمند کړ

زهٔ دعلي خيل درياب دغے نوے اختراع او نوی کوشش تے دقدر په نظر کورم او دا رم يقين دے چه لوستونکي به دغه انداز خوښ کړي په مينه به ئے اولولي او خوښ به ترے واخلي .

زهٔ نورو زلمو او ليکوالو ته هم دا بلنه ورکوم چه هغوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمان نه سپینے پاغونډے راپریوتل شروع شول . موټر په داسے صورت حال کښے کېر وو چه که په شا راستنیدلے نو هیڅ فائده ئے نهٔ وه او په وړاندے تګ هم ممکن نهٔ وو او زما کورته لا د پو میل نه قدرے زیاته فاصله پاتے وه موږ چه خپل پکوانی چوک ته اورسیدو نو لاس پښے مو شل شوی وو او د ماچس تکونو همت مو نهٔ شو کولے .

ما دغه پښتو نے واقعے ته د یوے افسانے شکل ورکړو چه د شپږ پنځه جملو نه زیاته نهٔ وه او عنوان م ورله — " دعوت او آفت " کېښود . دغه افسانه بیا د مارچ په میاشت کښے په ورځپانړه "بانګ حرم" کښے چاپ شوه . ددغه واقعے پس منظر صرف ما ته یا زما ملګرو ته معلوم وو . خدائے شته چه هغه ورځو کښے زۀ په دے نهٔ پوهیدم چه ګنی دا یوه مختصر ترینه افسانه ده . خو بناغلی ایوب صابر زما ډیره حوصله افزائی اوکړه خو دغه افسانه اوس ما څخه نشته .

د پښتو افسانے یو انداز خو د ارباب رشید احمد خان دے او یو بل جدا انداز زما د خوښے او زړۀ ته رانږدے شاګرد علی خیل درياب دے ځکه چه په پښتو کښے دغه قسم ته نمونه ددے نه وړاندے زما د نظر نه نهٔ ده تیره شوے . ښاغلی علی خیل درياب د افسانچو موضوعات هم ښکلے دی او نوم ئے هم جاذب توجه دے . په دغه افسانچو کښے د یوے مکملے معیاری او په ټول پوره افسانے ټول خصوصیات او لوازمات موجود دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړاندے شي خپله مورنۍ ژبه څو په [illegible] د پښتو روایاتو په بنیاد دادب ښکلی ښکلی عمارتونه اودروی ځکه چه په کوم ادب کښې چه زمونږ دروایات موجود وی هغه ادب به کله هم پردے نهٔ شي همیشه به تروتازه اوهر دلعزیز وی اوپه کوم اد کښې چه ناآشنا او بے جوړه روایات په زبردستۍ ځائے کړی شوی دی ـ هغه ادب کله هم نهٔ خپلیږی اونه زمونږ دکلچر مستقله حصّه جوړیدے شي ـ

علی خیل دریاب یو محنتی ، خوش فکره ، خوش شکله او د اوچتو عزائمو زلمے دے ځکه په ما ګران دے ـ ما همیشه دخپلو محنتی شاګردانو حوصله افزائی اولاربنودنه کړے ده او د هغوئ په کامیابئ رم دخوشحالئ اظهار کړے دے ـــ علی خیل دریاب هم زما په هغه شاګردانو کښې شامل دے په کوموچه زهٔ په ځایئے فخر کولے شم ـ

دازما یقین دے چه علی خیل دریاب او د زلمی کول بعضے محنتی او خود اعتماده زلمی به د راتلونکی وخت دادب دآسمان ځلنده ستوری وی اوخدائے دِ کړی چه زما دغه دعوئ صحیح ثابته شي ـ الله تعالیٰ د علی خیل دریاب په قلم کښې خیروبرکت واچوی ـ آمین

محمد الله کرے حسن رقم اور زیادہ

ډاکټر ایم اقبال نسیم خټک

پښتو څانګه پېښور یونیورسټی

۲۷ ربیع الاول ۱۴۱۸ھ / یکم اګست ۱۹۹۷ء

ورځ - دجمعے مبارکه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غزل زلمے د
# افسانے په کهاله کښے

---

ښاغلے علی خیل دریاب یو ښکره شاعر، پوهه ادیب، زلمے پوهان کلک ملګرے، میلمه پال پښتون، فرمان بردار، کش خوږ زړے انسان او ښهٔ خوش نویس دے.

کله چې موږ په امان دره کښے ادبی هلے ځلے پیل کړے نو زما غوږونو ته د ښاغلی دریاب نامه دیو شاعر په حیث را اورسیدهٔ. هغه وخت دوئ لا د سکول طالب علم ؤ. په رومبی ملاقات کښے دوئ نکه دیو حیادار زلمی ما ته خپل شعرونه وړاندے نهٔ کړل. او بیا چه څهٔ ورځے زوسته هم دوئ په تحریک موږ خپل کلی کښے یوه اولسی مشاعره جوړه کړه. او دوئ پکښے خپل کلام وړاندے کړو. نو دے وړوکی طالبعلم په شا ما ته یو ښکره شاعر او پوهه ادیب په نظر راغے.

د ښاغلی دریاب د پښتو ژبے او ادب سره د بے کچه مینے په سبب موږ هم د دوئ په خوښه او کوشش هیشه پښتو ادبی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رجسټرډ اماندره جوړه کړه او ترڅو وخته مقامه مو راوګرځوله.

موږ ته دا وراره کله د پښتونخوا هرې سیمې ته مشاعرې ته تللي یو. نو بناغلي دریاب د خلقو پام خپل غزل ته راګرځولو کښې کامیابه پاتې شوی دی. دې حلقه خو به روانه مشاعره کښې خلقو د دوی د کلام نمونې هم غوښتي دي.

یوه مشاعره کښې چې د پښتو نامتو څېړنکار پروېز شاهین د دریاب خوندور غزل واورېدو نو اعلان یې اوکړو

"چې کله دا زلمی د خپلو غزلو کتاب چهاپ
کړي غواړي نو زه خرڅ ورسره زه منم"

او بیا په ډېره کړه موده کښې بناغلي دریاب د غزل
داسې کوټلي تجربې اوکړې او لاکوي چې ما ورته د "پښتو
د غزل زلمی" اووې. سه

چې دریاب یې په سنګر د غزل پروت دی
ګرځه څو به بانډې څېړې ملاګڼي دي

بناغلي دریاب د شروع راسې د شاعرۍ سره سره نثري
اصنافو ته هم پاملرنه کړې ده. د طالب علمۍ په زمانه
کښې یې په یوه ډرامه د یو پروډیوسر صاحب نه شاباس
هم اخستي وو او هغه بناغلي ترې هغه ډرامه ریډیو پاکستان
پېښور مرکز ته هم وړې وه. وائې د پښتو هغه خبره
"چې د کوم بچي د پلاره یې پیسه نه وي او دمورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاسهٔ نهٔ دی هغه بچے سبق نه شی
وېشلے .»

نن دولس۱۲ کاله وړاندے چه ملګرے نوشیروان عادل د ورځپانے جهاد پېښور د پښتو برخے نګران وو - نو ډیرو زنمو لیکوالو سره په خټک بناغلی دریاب هم ډیرے قیمتي ملغلرے پښتو ادب ته بخښلی دی . او دخپل اصل نوم سره ئے په قلمی نوم هم ډیر مضمونو نه چهاپ شوی دی .

هم په دے موده کښے بناغلی دریاب کافی افسانچے اولیکلے چه څهٔ یکښے په ورځپانه "جهاد" پېښور ورځپانه "وحدت" او اوونۍ ورځپانه "هیواد" پېښور کښے چهاپ هم شوے .
د دومره ښهٔ افسانچو په لیکلو نهٔ یواځے ما په شا او ټپوی . بلکه نورو ملګرو ئے هم ښهٔ ډاډګیرنه اوکړه . دوسته ئے د افسانچو سره ډیرے افسانے اولیکلے . چه څهٔ خو په اخبارونو رسالو کښے چهاپ شوے او څهٔ لا تر اوسه ناچهاپه پرتے دی . ډیرو ملګرو صلاح ورکړه چه دا افسانے کتابی شکل کښے چهاپ کړه .

او بیا څه موده وړاندے چه د غزل زلمی یوځل بیا د افسانچے په درشل پښه کېښودهٔ . نو افسانچے د دوئ ځلنده فکر او ښیرازه ذهن ته تود هرکلے او وے . دا ځل بناغلی دریاب د افسانچے په سرخنه کولو ډیر کراؤ اوکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څان ته د افسانچې په کهاله په هسکه غړي ورد شه کړو.

راځئ چه اوګورو چه د غزل زلمي د خپل فکر و فن ثمر قیمتي ملغلرې افسانچې ته پېرزو کړي دي - او د افسانې په کهاله کښې ئې څان له کوم مقام پیدا کړې دے.

د بناغلي افسانچه نګار مشاهده ډېره ژوره ده - دوئ هم په دې معاشره کښې سترګې غړولي او هم دلته ژوند کوي څکه خو د ژوند په هر اړخ د سا نظر لري - او هر رنګ ئې پېژني. د دوئ اکثرې افسانچې د دې معاشرې عام واقعات دي. چه دوئ پکښې د خپل فن په ذریعه زړونو راښکونو او نوې والے پیدا کړے دے - دوئ د خپل چاپېرچل دے واقعاتو او حادثاتو ته هیڅکله هم په جذباتي انداز نه دي کتلي - بلکه د واقعې، حادثې او کردار ښه ژوره جائزه ئې اخستې ده - په خپله جذباتي، عملي، اخلاقي او ذهني سرمایه کښې ئې ښه اغېز لي دي - او بیا ئې ورته په افسانوي رنګ کښې د رنګ کړي الفاظو جامې وراغوستي دي. څکه خو د دا افسانچې د مجلس ګرمولو سره سره زړونه هم ښه ګرموي.

په هره تولنه کښې داسې واقعات او خبرې وي چه د معاشرې غړي ئې یو بل ته په پس پسي کښې وائي. په عام مجلس کښې د هر چا د ورانډې دغه واقعاتو ذکر هر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ شي کولے - خو د بناغلي درياب بے باکه قلم ورله په ډير جرات انداز کښے غوره الفاظ او مناسب علامتونه خوښ کړي دي او په ډيره فنکارئ ئے دغه واقعاتو او حادثاتو نه پردے پورته کړي دي او نهٔ يواځے عام لوستونکي ته ئے په ډاګه کړي دي بلکه په سوچ او فکر ئے هم مجبوروي. دوئ کهٔ په معاشره ټکونه کوي - د پښتنو توهم پرستي غندي - د دنيا بے ثباتي په ګوته کوي - د پښتنو د غريبي يادوي او کهٔ د موجوده دور د مسلمان بے عملي په نخښه کوي - نو د خپل چاپيرچل عکاسي په ډيره ښه طريقه کوي - کهٔ د طنز غشي وروي نو د مزاح خواږه هم خوروي" د خپل چاپيرچل ډير رشتوني واقعات او حادثات ئے د افسانے په فن کښے رانغاړلي دي او د خپل کورکلي اصلي کردارونو له ئے هم په خپلو افسانو کښے ځائے ورکړے دے لکه اخون ناصرخان شيخ استاذ، ممتاز، ټوپک مننګ، عبدولي، رحماني ګل او داسے نور بناغلے افسانه نګار يو اعلي تعليمافته زلمے دے. د قامي تاريخ سره سره په موجوده نړيوالو حالاتو هم ښهٔ نظر لري. ځکه خو ئے ځينے نړيوالو واقعاتو، حادثاتو او قامي الميو ته د افسانو رنګ ورکړے دے که "ورخته" او ماده پرستي ئے تاريخي بنه لري نو "شپيلونه" "نبرل مانډره" او "ايمل کانسي" ئے د بين المللي واقعاتو او حادثاتو ښکاره شاليد لري - لوتها د ملکي سياسي کلتور په حواله ښهٔ کوشش دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د بناغلي علي خيل درياب د افسانو په فني ارخ نظر اچوو . نو د افسانې دپاره چه کوم توکي ضروري پکار وي هغه دوی خپلو افسانو کښې په خپل خپل تابين ځاے کړي دي.
د اکثرو افسانو پلاټونه ئې د حقيقت او جدّت دواړو په کالو پوره دي . او په ډير اختصار سره ئې ټولو عناصرو له په زړه پورے ځائے ورکړے دے . کشمکش (SWSPENCE) او په تيره تيره (CLIMIX) د افسانې روح وي دا توکي بناغلي په خپلو افسانو کښې د خوږو جملو په مدد سره اصلي مقام ته رسولي دي .
کردار نګاري هم د افسانې دپاره لازمي ګڼل کيږي . دده افسانو کردارونه د خپل چار پيرچل سره سم او فطري دي. دوئ کله کله په يوه جمله کښې د کردار پيژندګلو کوي . او د خوبو سره سره ئې خامئ او کمزورئ هم په ګوته کوي.
د کردارونو ژبه ئې هم خپله ده او نوم ئې هم د هغه کردار عکاسي کوي . ټول کردارونه خوئې اصلي دي او د خپل کلي کوڅو نه راخستي کردارونه دي . ځکه خو د پلاټ سره منطقي تړون لري .

د بناغلي درياب د افسانو ژبه خوږه هم ده او سوچه هم . د کردار او ماحول سره سم الفاظ ئې راوړي دي . ډيرو علاقائي تورو له ئې ځائے ورکړے دے او ورسره ډير الفاظ ئې داسے هم ليکلي دي چه ځنګه ئې عوام وائي . هم هغه شان ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکلی دی . او دغه رنګ ئے یوه جمله کښے ډیر مطلب رانغاړلے دے کله کله ئے دخپل مقصد څرګندولو دپاره داشاروکنایو او علامتونو نه کار اخستے دے .

دیو پښتون پوهان وینا ده چه

" افسانه نګار دخپل فن په زور څه خبرے څرګندوی . اوڅهٔ لوستونکو ته پریږدی ."

بناغلی دریاب تقریبًا ټولو افسانچو کښے هم داسے کړی دی . لوستونکی ته تیاره نوړئ نهٔ ورکوی بلکه هغه په دغه واقعاتو دپوهه کیدلو دپاره په سوچ او فکرم مجبوروی او هغه بیا دخپل ذهن او فکر مطابق دغه قیصه وړاندے بیائی . او دهغے په حقله خپله رائے قائموی . د څینو افسانچو مقصد ته درسیدو دپاره خو ډیر سوچ پکار دے محترم همیش خلیل هم د بناغلی دریاب په دے کتاب په څائے ګړی ډول نیکل کړی دی او دخپل علم دفن په ذریعهٔ ئے دد ے افسانچو ډیره ښه تصویر کښی کړے ده . ولے بیا هم دیو ے نیمے افسانچے مقصد ته نه رسیدلے .

دافسانے دپوهانو په خیال دافسانے دپاره لنړوالے ضروری دے . ولے خاص حد ئے مقررول ګران دی . څکه چه کهٔ بے مطلبه جملے او خبرے د افسانچے په اوږدو باندے جوړیږی . نو تاثیر وحدت ته هم زیان رسوی . په لنړوالی کښے خو د بناغلی دریاب افسانچے خپل مثال په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی . د شمیر په څو جملو کښې ئې ډیر څه بیان کړی دی.
یعنې دا افسانچې په معنوی لحاظ د جامعیت ښکلې شاهکارونه
دی . هم دغه وجه ده چه د دې افسانچو کښې تاثیر وحدت
قائم ساتلی شوی دی .

بناغلی افسانچه نګار خپلو دې افسانچو له داسې سرخطونه
خوښ کړی دی چه د مرکزی خیال په پوره توګه عکاسی
کوی - اکثر سرخطونه ئې قیصې ته خلا بخښې او لوستونکی
نظر ځان ته راکاږی او ذهن ئې قبلوی -

د دې افسانچو آغاز زړه راښکونکې دې او په ډیره
اسانه لوستونکې ځان سره روانوی او هم دغه رنګ ئې
د افسانچې انجام دې - چه مقصد ئې اکثر په یوه جمله
کښې رانغاړلی دی - منظرنګاری هم د دې افسانچو خاصه
ده - کله کله خو په یوه جمله کښې پوره پوره منظر
بیانوی او کامیابه منظرکشی کوی -

د دې افسانچو کښې چه بناغلی دریاب کوم انداز خپل
کړی دې دا د دوئ ځانګړی اسلوب دی - دوئ د میچا
نه متاثر نه ښکاری - ښکاری چه نور زلمی پیغلې دا انداز
خپل کړی .

د دې افسانچو کښې بناغلی افسانه نګار د پښتنو د کلی کوڅو
واقعات حادثات، توهمات رسمونه رواجونه، دودونه او
قدرونه په اصلی شکل کښې وړاندې کړی دی . او په ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جُرأت سړۓ د پښتني معاشرے ځانګړی کمزورۍ او بدۍ هم په ګوته کړی دی .

" دا افسانچے د پښتني کلتور او فوکلوري عناصرو بشپړه ننداړتون نه دی".

دافسانے دانواعو په حقله چه پوهانو څو مره قسمونه بیان کړی دی هغه تقریبًا ټول په دے افسانچو کښے په نظر راځی . که کرداری افسانچے لری . نو واقعاتی او ماحولی افسانچو له ئے هم ځائے ورکړے دے که دے کتاب کښے علامتی افسانچے شته . نو په نفسیاتی کشالو لیکلی افسانچے ئے هم شاملے کړی دی . داکتاب تاریخی افسانچے هم په خپله لمن کښے لری .

دافسانے یو خارجی پوهان هاتهرون وائی .

"افسانه نګار دافسانے په ذریعه دخپلو لوستونکو په ذهن کښے یو اثر پریښودل غواړی".

زما په خیال بناغلے دریاب دیو کامیابه افسانه نګار په حیث دغه اثر نهٔ یواځے دخپلو لوستونکو ذهنونو ته رسوی بلکه په سوچ او فکر ئے هم مجبوروی".

زلمی دریآب د پښتو افسانے په کهاله کښے نوی او پاخهٔ بنیادونه کښېښودل . خدائے دی او کړی . نور پښتانهٔ زلمی پېغلے په دغه بنیادونو بنګلی او لوړه مانړۍ اودروی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښتو افسانه د عصري غوښتنو سره سمه مخ په وړاندې بوځي.

بناغلي دریاب که د "غزل زلمي" دے نو د افسانې په کهاله کښې د چرګئ د برے غاړے سړے دے.

خدائے دِ دَدوئ په ذهن او فکر نوره رنګیني خوره کړي او په قلم دِ ئے برکت شي.

میاں فضل الرحمان شاهد

صدر

همیشه پښتو ادبي ټولنه رجسټرډ

امان دره ملاکنډ ایجنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنیا لیونۍ

داحساس بوتړۍ ښکاري دالیونۍ دنیا دوکه مشین
چرته یو ځائې کیدو ته پرېږدي . ځکه نو
ښه به داوي چه مونږ دیو بل نه داسې ورک
شو چه دادنیا مو په لټون لټون په بله
داوړي . بیا به کله خیر وي مونږ
سره یو ځائې کیږو ......
عمرونه اوشو چه جانان
ګلپانړې ته داسې وئیلي
وو . مخوۍ هم هغه شان
دیو بل نه ورک دي
ولې دنیا هم
هغسې لیونۍ
دکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاورے

څانګے .... یا څانګے .... د اسپرلے ولے

وهے . سرپیه ! دا ته ګورے نه

چه خاورے خوری .

اُفـو ! پرین ده چیه

خوری کنه . زمونږ پیه

کاله ګینې بے د

خاورونه

څهٔ

دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جرم

هغه نن ډېر بې توله ځبلي وو .......
د سترګو نه يې اوروښه وريدل . د غصې يې
شين تندر وو ، کوز ته په رانښوتو
ـــې دېو لويې جرم زلزلې راواستې
لګيدلې که يې د بنځوالئ د قيده
خلاصه کړه خوځان ــې د
پښيمانئ په زندان
کښې ټول عمري بندی
کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکوټ میرېنې

زما نیا ډېره ساده ښځه وه . چه کله به ورته څه سخته
راپېښېده نو چغه به ئې کړه "چه دکوټ میرېنه را رسېږه"
اګر چه ما به اکثر منع کوله . ولې دا دهغې عادت ګرځېدلے
وو . خو یوه ورځ چه هغې په کټوئ کښې پټئ
نوټوکول او پټئ د تاوُ له وجې په مور کښې
دا وړېدل . نو نیا رم چغې کړے چه "دکوټ
میرېنه را رسېږه" . او په دے کښې د برسے
دکوټ نه یو لوے منږک په کټوئ
کښې راکېل شو . نیا ته رم او دے
چه دکوټ میرېنے را او رسېد
هغې ما ته غصّه غصّه
کتل او ما په کټوئ
کښې پټ ختلی
دکوټ
میرېنې
ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات منګے

لونګ - کشماله په خمار کښې اخستې وه - چرګ ئے راوښکله
ورروان شو .... او رو غوندے ئے اووئیل - یره
که ته هم کشمالے زما د پاره لو خواښته تو د
قتلولو هغه اوکړه ته قصه ئے تماموم؟
..... او خو چه هغه کشمالے ته
رسیدو نو د سینه په غاړه هغه ته
وه خو د هغے مات منګے په داسے
حالت کښې پروت دو، لکه
چه د کشمالے د پښتو په
سندرو کښې د لونګ
په ننس پرستۍ
پورے په
بق بق
خاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پردی سترګے

آخر د استا خلے له راتله خنګه ، ځکه چه ماخوستا

د مینے په خاطر د وینے تولے رشتے قربان کړے

او تر دے چه د پلار د ماله ږ هم لاس اوونیځل

خو نهٔ پوهیږم. چه پردئ سترګے دِ

اولیدے نو خنګه دِ په دوغ زړهٔ

او وے چه

زینه په تلو راتلو زیاتیږی

موږ کره مهٔ راځه زړهٔ د صبر تینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما په زړه باندې بلا بلا راوويږي

يوه پښتنه شپېږ کاله وړاندې چې زړه لا په لوښو ووم . او تۀ بنه
ښوانه ، نرمه ، ګرمه ، ښائسته او ښکلې وې . هر کله چې
به زما سره په کټ کښې يو ځائې شوې او ما به ځان
ته راجوخته کړې . نو بيا هر کله به واوړې وريدې
ولې تا به په ټې ساعت کښې زما خور خور زړه
راټول کړو . او د الله هو په خوږ لن
به دې په قلاره دخوب ټکوونه
راکړل . خو نن چې زړه ستا نه ډير لرې
په مزدورئ پسې راورک شوې يم
ستا نه بغير په سوړی سوړی
شا د رکښې دژی او بډ شپه
دۀ او شړق باران دے . څه که هم اوس
ته هغه ښکلا ، ښائست ، ګرموالے
او نرموالے نۀ لرې ، خو بيا
هم زما زړے برستنې زما
په زړۀ باندې بلا بلا
راووريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماده پرستي

دا يوه دا سې بې سترګو بلا ده چه کوم واز
کړي . نو بيا دنيا هره رشته او خپلوي په
يوه تپه کوي. او هم دا وجه ده چه د
همايون ماده پرستۍ چه کامـــــــران
را او نيولو نو سترګې ئې ورله په
تو دو سيخانو ړندې کړې. تراوسه
نيمبوان ئې پکښې نجوړ کړل
او بيا ئې په حجاز کښې
د اجل فرشتو ته د
لاس ښنبو نه
اوسـپرلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نازولے جذبے

چرته چه د خواهشے سر لړے جذبے د تیکاؤ خوبه
غینږه بیا مومی - نو هلته بیا د مینے دسپیڅلو
جذبو احساس په زهـــرو کنبے لامبـل
شی او که دا سے نهٔ وے نــو
سنبل بـه هیڅکله هم زما
نازولے جذبے دا سے
په بےدردئ
نهٔ قتلولے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یقین

بریښنې دې دچا — ؟ بریښنې م دتورسپي - بریښنې دې
دچا — ؟ بریښنې م د زورځندو . بریښنې دې
چا -! بریښنې م د تورې ګڼجې هلته اینګر آکا —
مالي ماما دموږ — او دلته سپین دا ماته
ګیا وو - هغه بریښنې د دمونو پښې دے
زه خو پرے ډاکټرانو د ماله خلاص کړم
— بنه یم خو چه لږ زور اوکړم.
نو بیا م دیو خدایه وی . ماد
سپین دا خبره زړه ته واچوله
خوسحرم مالي مــامــا
اولید چه په دوه لاسی
په جنګی کښے
ــتــبر
دمی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نورے

شرق باران دے ۔ د ماز یګر مونځونه شوی دی ۔کبل کاکا
په ړندو سترګو ښیښے ابله راروان دے ۔ او چه زما په
بنګالو پوهه شو ۔ نو په زوره ئے اوویل ،
"ته ګوره ! ظالمان دخدائے دکوره هم غلا
کوی ۔" ما ورته هیڅ هم اونه ویل
ځکه چه لږه شیبه وړاندے م د
دکبل کاکا زوئے نوړے اولیدو
چه د چهترئ او څپلوسره
د پوړو په تکل
بازار ته په
کړ ره
ود ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متېزه

که یو پله په هغو دواړو خوېندو د بنګلاکانو سپړلی
دېره وو - نو بل پله د حیا او درنو خویونو په
کالو هم بنائسته وه - ولې په ټول کلي کښې
ورته هیڅا هم تن نهٔ ایښودو - ځکه چه
مور ئې په پلار پسې متېزه راغلې
وه - تراوسه بې نکاح وه او د اشاق د پلار د مور
د خطا په جهنم کښې دوئ
په عذابیږي ، ولې
بېګاه چه شومه دم شوه
نو هغوئ د دغې جهنم
نه د خلاصي لاره
اومونده او دیو
تیا کلي منزل یه
لورد کوزه
اووتے -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زهر ژرنه پوښته

په تکه توره تیاره کښې چه عکرمے د شوتلو پنډ په شا کوو ته
راننوتو نو شمکئ ورته سپکه پا سیده . پنډ ئے د بیزے
مخے ته اوغورځوو - او خپله په کټ کښې بوږے بوړے
پریوت . شمکئ ئے هم ترڅنګه پریوته . لږ ساعت
پس داپاسید . یو څو قدمه لاړ - او بیا کیښناست
یو لاس ئے د هغے په سپین مهین وجود په قلاره
قلاره ګرځولو او بل لاس کښې ئے د هغے "تی"
را اونیول . کله به ئې ورله په یو
"تی" زور کړل او کله به ئے په بل
دغه رنګ کله به ئے د هغے په
نرمے او پستے خیټے لاس اووهل او کله به ئے خپلے سینے ته
راجوخته کړه . آخر شومه دم شوه . او عکرمے هم اوده شو
خو سحر چه هغه د خپلے بیزے نه د پیؤ اخستو په غرض وراغے
نو نه ئے خو په هغه وجود کښې ساه وه . او نه ئے په
هغه "تیو" کښې پیؤ وو . په کومو چه هغه
بیګاه لاسونه وهل . بلکه د غلا په
زهر ژرنو دارو پونه شوو شوتلو
هغه د عکرمے نه مروړ
کړے وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانهٔ

د بیوټي پالر نه چه راغبرګیدلو نو لاره کښې
ټریفک جام شو - دے کښې یو سپین ږیرے ټچوکي
په لاس زمونږ موټر پله راغلو ، وئیل ئے .
"خان : بي بي ته ټچوکے واخله کنه ـ مام
کورودانے ته اوکتل چه وینبته ئے زما د
وینبتو نه هم وارهٔ وو - هغه سکئ
شوه - ما هیڅ اونهٔ وئیل - البته
سپین ږیری په تلوتلو کښې
اووئیل - یره هغه پښتانهٔ
خاورو اوخوارهٔ چه
وئیل به ئے . د
ښځے په نائ
ځـهٔ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# برنده خاموشي

سر! زهٔ هم د دے ډیپارټمنټ ریګولر سټوډنټ
یم - زما اکیډمک ریکارډ ستاسو د وړاندے دے. د
یونیورسټئ ریکارډ هولډرز نه علاوه زهٔ ګولډمیډلسټ
هم یم - ولے دخپل ایډیل استاد برنده
خاموشي ماته نکه دغنچے په څیر په
سلوټ بو ګویا شوه - چه هغه په
ماټ زړهٔ دیو خاص سیاسي اثرلاندے
دیو تهرډ ډویژنر اردر ادباسي
او هم دغے اردر زمانه زما
دحق سره سره زما
د سر سیوري هم
اوتروړلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیبرل مائنډډ

آزاد خیال - روښن خیال - لیبرل مائنډډ

جوادخان د انګلش پروفیسر چه په ورځ را دننه شو

نو خپل نابالغه زوئے او لور ئے لغړ سوغړ

په قابل اعتراض حالت کښې اولیدل - د

پښو لاندے زمکه ئے اوتښتیده - لغ کوټه

ته لاړ - او کلاشنکوف په لاس

را اووت - په ځائے د دے چه د

خپلے آزاد خیالۍ قتل ئے کړے

وے - په چت ولاړ ړه

وشتﻝ انتینا ئے په ډزو

سوړ سوړ

کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بناپیرئ

بیگاه چه لس بجے کورته راورسیدم ، نو
نیغې راته داحمد دین د مرګ روح چیچونکې خبر
واؤروو - یره ! غریب داخلوېښت کاله
د یو ژور نفسیاتي کشمکش په کومي کښې تیر
کړل - چرته فالي ورته وئیلي وو. چه
چه په تا به بناپیرئ مئینېږي. ځکه
نو وادهٔ مهٔ کوه - او هم دا وجه
وه چه د خپلو خپلوانو او
یارانو دوستانو د بیا بیا وینا
باوجود هغهٔ وادهٔ ته
غاړه کېښنوه - مئین
مړ شو - خو بناپیرئ
پرې مئینه نهٔ
شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نزوبه تومله

څهٔ کهٔ هم جان ورپسې پهٔ تلو راتلو خپلئ

اوشلولې . خو "رڼا" د سحر کورته ډُچ

توت خوړلې وو . او دا څکه چې

د جان ژوند بخښونکې تومله

د هغه بې سره څوانئ

نزوبه کړې

وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوټا

ماچه بر پیس ته داوداسة .دپاره لوټا سمه

کړه ـ نو راته ئې اوفرمائیل چه زما لوټا په

خلوت خانه کښې ده ـ هغه راوړه ـ ماچه تر

دخلوت خانې دلوټې راز اوپوښتلو ـ نو

وې فرمائیل ! دریاب خانه دهرې

لوټې نه خوخوک ستر نهٔ ماتوی کنه.

مارم د پیر دحکم تعمیل اوکړو ولې

فکر یوړم چه زمونږ دملک دهرې

سیاسي پارټۍ مثال خودځان

خرخوونکې رنډۍ دچه

دهرې لوټې نه دخپل

ځان اوکالهٔ

ستر

ماتوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جامے

زۀ د واده قائل نه يم ځکه چې د انساني ذات تيمين
د واده نه بغير هم کيدے شي - عمران به اکثر د دنيا
ولے پرون مې په سره غرمه کښې لغړ سوغړ اوليدو
چې کور پله په منډه وو - دوسته خبر شوم
چې د ترکانړی کړه په بدنيتۍ اوختے
وو - او د هغۀ زامنو تر مے جامے
اوښکے وے - ماغوږونه سپره
کړه - او يقين نه م ريوته
چې په رشتيا ښځے
د سرو د پاره او
سړی د ښځو
د پاره جامے
دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرپانړه

زرپانړه او ملال که په یو بل ورک یوئ
وو خو په زړ زړی شال کښې د زړے شړئ
پیوند چرته ځائیږو او هم دا وجه وه
چې ملال که د زرپانړے نهٔ شو، خو
د هغې د واده نهٔ څوشې وړاندے
ئے د زرپانړے د غوښتنو سالو
ته هغه څه ورتهکوهل
چې د گناه زړه ئے هم
لرل او د ثواب
خوشبوکهانے
هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدل

خانیه زهٔ ستا د ناجوړه پلار خدمتونه نهٔ شم کولے. ترڅو
چې مغز په دغه کوډکښې وی . نو ما مه وینه —
او — دا زما آخری فیصله ده . ماسختن شوځو
د خاڼ په مزغو کښې د ښځے دے رتلی جواب
غوښتنډ جوړ کړے وو . اوس تیاره
شوے وه . پلار ئے په ښاد سیند
غاړے ته یوړو . نو چه سیند ته
ئے غورځوو . نو پلار ورته
او وے : بچیه ما د دغه بړو کس
نه سیند ته او غورځوه.
ځکه چه مارم د پلار نه
د ښکه بدل هم
د غسې اخستے
وڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګانړۍ

کلي کښېنې کهٔ به دچا خپل پېټې وو اوکنه ، خوګني
به ئې دعظیم ګل ګانړۍ ته رانوستل، او
هم دلته به ئې ګانړۍ کول ، ولې د
حیرانتیا خبره خو دا وه ، چه کله
به پېون تیار شو . نو دکلي
یوکس به ورته هم نهٔ
رانزدې کیدو - بلکه دا
به عظیم ګل په یوازې
ځان خپل پېون
ګنړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بے عملي

انون ناصرخان زنه نن مازیګر اووے - ماسټرصاحب - بیګاه
نو دویرے نه هم یم . ماوے! اخونه څنګه ؟ وئیل تے زمکه د
تانبے وه، نمر نیزور وو - ویشیدلے اوبه راښکے وے او ملک
دخرو نه ډک وو - ما پټوس اوکړو چه نورخولانو
دی ولے دادومره خرهٔ څهٔ کوی ؟ جواب راغے
چه دا بے عمله ملایان دی - اوکهٔ یقین دِ نهٔ راځی
نو دځان نه دا ولاړ خر دغوږ نه
راکاږه چخیله به پوهه شے ماهم هغسے اوکړل
او چه څنګه م خر د غوږ نه راکاږه و
نو مولانا صاحب چغے کړے ، پریږده
- پریږده - ظالمه مردِ کرم
- ماچه سترګے اوغړولے
نو نیمه شپه وه -
زما لاس وو - او
دمولانا صاحب
غوږ وو - توبه م اووئیله چه زما د
خلوینبتو کالو استاد او بے عمله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډولۍ او جنازه

دا څُل چه منیر درے میاشتے پس هم کور ته رانغے.نو
چنار اکا لیږے خپله بنار ته لاړو . ولے ماځیګر د
بم په پوه چاوُدنه کښے په حق اورسید . او
سحر چه منیر د کامیابے بم چاودنے نه
پس ډک جیبونه د کلی په کنډو
راوړیدل ، نو د بم په چاوُدنه
کښے ئے د پلار د مرګیے خبر
هم واوریدل . هغه خو به
په دغه پیسو خپله
ډولۍ راوړی - ولے
د پلار جنازه
ئے اوویسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حزمونے

دالسمه رښته ده چه د "پری" دپاره راغلے وه،
خو بیته نشته چه جمال اَکا ولے غاړنهٔ ایښوده
په هر طور بیا یو وخت داسے هم راغلو
چه په "پری" پسے د رشتو راتللو
تمبے پورے شو ے ، او نن د سحر
دموښځ نه پس جمال اَکا هغه
ماشوم کورته ننه ویستو
کوم چه ئے ښه شیبه
وړاندے هم دده
کوره "پری"
ویستلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرہ ګل

سنګین دیو شتمند پلار نیازبین زوئے او بانو
دیو مے بے وسه مور غریبه لور وه - څه کـه
هم د بانو د ارزوګانو مرکز سنګین وو - ولے
هغه د خپلے ترلے دپاره د تاتره دیو
در یے سرہ ګل وو - چه هغے ورته
د حسرت د تاترین نه کتلے شو که
نو خپلوئے نه شو - او
عن چه د غه ګل وختونو
د خپل روایتی جبر
ترمخه په یو
بل اوربل
کښنے
او تومبلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرتوغابن

زۀ چه په ډاک ورښکاره شوم نو هغه دکور مخې ته په
دره ناسته وه . چه زۀ ئې اولیدم نو پرتوغابن ئې په لاس
کښې اونیوۀ . مسکئ مسکئ کیده او په پرتوغابن ئې لاس
رتول . زۀ ورو ورو ورنزدې کیدم هغې کله ماته
او کله پرتوغابن ته کتل . څن چه زۀ
ور اورسیدم او هغې زما لاس تش اولیدل
نو کړکئ ئې ګذار کړه . وې خه!
نه ګوم درله پرتوغابن' او په
ژړا ژړا کورته ننوته . ولې
زما داحساس پښې ئې شلې
کړې په دې چه

سه

منم اختر دې خو غربت م قتلوي بچیه!!
تالا په څه باند بنګړي پر څم نګریزې راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیسې

شمشير لاله

چه د سرتور فقير په زيارت دُعا اوکړه
او راوتلو . نو خوا کښې ولاړ يو ماشوم
ورته اووے .

کاکا په بابا پيسے کيږدہ کنه ـ
شمشير لاله يو سوړ اسويلے
اوکړو او ماشوم ته ئے اووے
څمارشم ، زړۀ خو
خپله د بابا سنه
پيسے غوارم نو
خه پرے
کيږدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعتماد

هــئ ـ ـ ـ ـ هئ ـ ـ ـ ـ زما کور ودانے پهٔ
ما پېره مېنه وه ـ او هغې چرته زغملے
شول چه زهٔ دِ دهغې په امانت کېنې
ذره برابر خیانت او کړم ـ ولے زما
دخواهش نوکارو چه دهغې داعتماد
نازولے ګونه شو کے پوکے
کړه ـ نو هغې خوځان
مړ کړو ـ ولے زهٔ
ئے داسے پرېښوم
چه نهٔ مړم
او نـهٔ
ژغېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څرګندیونې

څرګندیونې نهٔ دي - خو چه زړهٔ ته زخم زوږي نو دي د شلمې پیړۍ
یارانې د مهو خوراک کړو - او دغه د سینه وچولس
هره ځمته شنډې شو ه - نو سودا ئې شي - پوره
یو کال پس چه سینه د ضروري مرمت د پاره
وچ کړے شو - او یو سړی څرګند
ته ګوجه اوکړو چه راشه که مهیان
نیسے - نو مغز په تشولاګیښوده
او تر دې درې پوړې ئې وچ شوي
سینه ته اوکتل - مادا سے محسوس
کړه چه د دغه ژړغونې سترګے
پکښې هغه ورکے سترګے
ګوري - کوم چه
بې سترګو یارانې
په اعتبار کښې
پناه کړې
وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متهاکي غوز

دکلي ساده جينکۍ دخپلې دروغژنې مينې په تومه کيتې
کيږول - هغوۍ د وختي خونن اختلو په غرض دوکه
کول - ادبيا ورته د ځان نه متهاکي غوز جوړول - د
رمظم خان دکس لاس کار وو - ځکه چه يو
که د هغه غوږ غرۍ بنسه وه - منو
بل پيسه هم ورځنه وز - ولې
پروين په هغه جينکو کينې نۀ
وه - کله چه هم اعظم خان
ورته د ځان نه متهاکي غوز
جوړ کړو - نو هغې ورله
د رسوائي يو داسې
درو نډا کاڼ راواچوۀ
چه هغې په مينځ
دو کا
کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوکری

دصوبیدار کاکا سړه سم نوی رابدل شوی ؤ اکی هم بیک
اولوستلو - او ورته ئے اووے - کاکا - مبارک شه، که
څه منښته دِ کړی وی نو راځئے کړه چه ختم ــ
صوبیدار کاکا دخوئے د نوکرۍ دے آرډر ته یوسوړ
اسوېلے اوکړو - او وے وئیل ــ
" څو انه زمونږ په ملک کښے دپریوتے
طبقے دپاره د نوکرۍ مثال د
نشانِ حیدر دے چه پړونئے چاته
نهٔ ورکوو - دے کښے یوسړے
دبهر نه راغے او وے وئیل
صوبیدار صیب لاس
په اوچت کړو چه
خدائے ستاسو
بچے اوبخښی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باور

دباور په مزغو د وي. سي. آر فلمونو دومره ناوړه
اغیزه کړې وه چې هغه ته ځان د فلمي دنیا یو
ستر هیرو ښکاریده. او هم دا وجه وه چې هره ورځ
به ئې ګلالئ ته د تختو پل پیتولے وو. ولے نو چې
هغه د سکول نه راتله نو دهٔ ورته په یو ډیر
ښکلي فلمي انداز کښې د خپلې ناقراره مینې
اظهار او کړو. هغې د یوړه خاموشئ نه
پس اووئیل: "باوره باور م نشي
او بیا ئې د پل لاندې غرمبېدونکو
چپو ته او کتل ولے د
هغې باور مله اوشو
چې هغه د یو ئې
فلمي هیرو
پشان
ځان دغه چپو ته او سپارو او خا نزه ئې هم صحي نه
شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غانړکۍ

وړوکوالے بادشاهي وي ـ ثابته غرمه به م هم
دلته ددے ادیرے په لاره غانړکۍ نیولے
او مازیګر چه به په لوبو بنه ستړے .
شوم نو غانړکۍ به م پریښوے
ولے مودے اوشوے ، چه
هم په دے لاره یوے
غانړکۍ زه راتیولے
ئیم . په ژوند
م لوبے کوی
خو پریږدی ئي م
نه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تَلَهْ

---

بابو صیب ... یه بابو صیب ځان اوتلئ کنه - خو زما په انګار
چه هغه په ژړا شو ، نو ما ترې تپوس اوکړو چه ولې ژاړې؟
وئیل ئې داد مې تېک مابنام شو اویو کس هم ځان اونه تللو
زه چه دا سې تش تور کېن دئ ته لاړ شم نو بیا زمانه
زیات زما وارۀ ورونړه ژاړی . زۀ به کچه خفه
شوم او ځان تللو په غرض چه ځنګه تلې ته
دراوختم نو خوا کښې ولاړ یو فقیر ګویا
شو - ځانونه په دې تله مۀ تلئ
بلکه د عمل په تله ځان او تلئ
ما فقیر ته اوکتل بیا م ژړغونې
ما شوم ته او بیا په باغ ناران
کښې هغه بې شمېر جوړه ته
په یو بل اچولی
لاسونه
کړ خیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انړیواله

تجېرکه ډېر غوښتل چه هغه ږ د جمعے سره مونځ اوکړي۔
ولے خلقو نهٔ غوښتل چه تجېر ږ د هغوئ سره په یو
صف کښې اودرېږي ۔ اوهم د دے ناروا سلوک احساس
به هغه اکثر جمات ته د راتلو نه ژغورلو
نن د اختر په مانځه کښې ږم اولیدو چه د
ټولو خلقو نه شاته زمونږ د کلي مشهور
هیجړا "نیکي" سره اودرېدلو خو چه هغه
ورته هم صف پرېښود، نو د جمات په
دروبي صف کښې ولاړ ملک صیب
ته ئے بد بد اوکتل
او را اووت ، د سپلے شي
چه د تجېر مور هم
د دغه ملک صیب

انړیواله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه رڼا

کچکول خیل ټول عمر په پیرۍ مریدۍ کښې تیر کړو۔ ولې
دعو په تربیت ئې څه خاص ټینګ ملرنه او نه ئې کړه۔ پرون
ئې د وه زامن په غلا کښې نیولے شوے وو۔ بیګا چه
مونږ ماسخوتن تیر د تانړے نه واپس شو۔ نو ما
ورته او وے "چه ما سره نه پاتے کیږے۔ او
خاغا ځے۔ نو او ورین چه څه رڼا خو د رته راوړم۔
ډیر تیاره ده"۔ هغه وئیل پرین د وه۔ زه
د زړه په رڼا ځم او رخصت شو
سحر "سباؤن" راغله۔ وئیل ئے
کچکول بیګا نالی کښے راپریوتے
دے۔ پښه ئے چور لګیدلے
ماته ده۔ او هسپتال
کښے دے۔ ما وے، بښه کچکول خو وے۔ چه
زه د زړه په رڼا ځم ......

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورورئ خوري

دسمبر بانګونو ته څه وخت لا پاتې وو. زه د لامبلو په غرض چاپ ته روان وّوم . خو د تيارې له کبله مغوئ ته زه نهٔ بنکاريدم . شيرو عبدل ته او وے، هلکه ستا وارهٔ خو دپلار کره لاړ دی نو دا بيا ولے چاپ ته روان يے . پرين ده زوره وره ! ډيارئ" د کوره راغلم . استغفرالله او هغے ته چه تا خود ويلے ده . نو څه اوشو . ورورئ خوری به کوؤ خو حساب کتاب به ئے ترمينځه دی . عبدل دا او ويل او په چاپ ورننوتو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تپوس

ممانڑے چہ نن جمیل صیب تہ د سپرغے د غابنونو راختلو
زیرے واؤرو ، نو ورتہ ئے اووئیل چہ دے لہ د
دردونو دواتی هم پکار دہ - مغہ اول ببرسر
او اوبڼد حجامت تہ اوکتل . بیائے پہ
خپل تش جیب نظر واچووُ . او دیو
سوړ اسویلی نہ پس ئے اووئیل
" سپرغہ چہ غابنونہ
راوباسي نو مانہ هم
تپوس کوی
اوکنہ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزړۀ غوښے

هغه هم وختونه وو چه زما غیږ ته به راغلے - ما به دِ دنړۍ
ملانه دواړه لاسونه تاؤ کړل - په ګبین ګبین کوکۍ به
م د خله کېښوده او ته به په سترګو کښے
مسکۍ شوے زۀ به تا مئین ؤم - بے کچه مئین.
په دے چه زما د زړۀ غوښے وے. وے
ن چه به تا د ځوانۍ سپرلی خواره
شوه - نو ته به بل مئینه شوے.
زما په مخ دِ د بدنامۍ نوکاری
راکاږل - زۀ دِ سپرېښووم
او د بل سره لاړے
مئم ! چه مینه
ګناه نۀ ده
خو خپل سپیځلی
اقدار چټول
هم ثواب
نۀ
دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بګرو باباجي

ماچه سکینه تور په سره غرمه په پردی کلی کښې اولیدو . نو
پښتنه مې ترې اوکړه چه تور خیر خو دے کښه ؟ —
وئیل ئې خیر چرته د بګرو باباجي له راغلم چه څه تعویذ
راله اوکړي . ډیر میړنے دے —
سم تک پرې وي . سبا ته به
مې زوئے راخلاص وي . زه
حیران شوم . ولے زیاتې حیران
په دے شوم چه هم
په دغه وخت بګرو باباجي
پولیسو په هتکړو
کښې بندیوان راروان کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرام

د راډیو پاکستان دے اوتاسو خبرونه اورئ ـ نن په اسلام اباد
کښې یو پښتانے وزیر د بډو رشوتونو او کرپشن په کیسونو
کښې گرفتار کړے شو ـ ویلے شي چه د دهٔ اسونو ته
به د منړو او شهدو مربے ، ګڅ ، بادام او سوچه
شودهٔ ورکولے شوهٔ ...... د دے خبر
په اوریدو ملنګ مستري د دوړي نه پاسین
ــ اونګیا شو ، تهٔ کورهٔ په موټر
ګرزګز خاورهٔ پرته دهٔ ـ موټر خوږ
لړے خورو ـ او د دوئ اسونه
ږ دا خوری ـ نو ګورے چه
دوئ به پخپله څهٔ خوري؟
نعمت دیاړي مار ملنګ مستري د لاسه اونیوهٔ
د دوئ ته ئے کیسوئ ـ او ورته ئے اووے ـ
استاد که مخوځ هرڅهٔ خوري نو حرام خوري
موږ که لړے خورو او که کولمے ـ نو شکر دے
حلال خو دی کنـــه ـ ملنګ مستري
توبه اووییسته او بیا په کاسه
کښې د لړی سره په
پرزولو شو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

داڅو د لوئے ښکلي خوښه وه. سلمٰی
که ډیر غوښتل چه د هغے غیږه دِ په نارینه
اولاد ډکه شي . خو د هغے دهر تدبیر
پښے به د تقدیر په توره غوځیدے.
او څن چه سلمٰی ئے د ښتون
په زنځیر او تړله - خو
ن هغے هم دا سے ګناه له
غاړه ورکړه چه د
هغے نه پس د
توبے تمبے
پورے
وے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ؟

زما نشي یاد چه هغه ګڼي زما د ځجرے نه بل پله تلے دے. سړ
د دے چه ما پرے د غصې تند رونه ورولی دی. وهلے م
دے. رټلے م دے او عن چه شړلے م هم دے. خو
هغهٔ خاطر نهٔ دے درون کړے. بلکه د دیو
چمتو څوکیدار په حیث ئے د ژبی اوبډدے اوږدے
شپے زما د پاره رونړ کړی دی. زهٔ ئے
د ژوند تر آخره ورځ پورے خپل مالک
ګڼلے یم. او زما په زړهٔ ئے د خپلے
فرض شناسئ، خودداری او وفادارئ
ژور خاپونه پریښی دی.
ولے د افسوس خبره خو دا ده
چه ما د خپل مالک درپرینې
دے. خپل فرض م لا
تر اوسه نهٔ دی پیژندلی، د خودداری په ګردنهٔ
یم ککړ، د وفادارئ بوشنک نهٔ لرم او تر ننه م
د خپل مالک د پاره یوه شپه هم نهٔ ده
رونړه کړے. نو اوس تاسو
او وایئ چه زهٔ ښهٔ یم
کهٔ زما خرو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روړیدلے بیاسته

کوهیان ویستل که د سنګری کار کسب وو نو کوهیان
ډکول هم د هغه نفساني مجبوري وه او داسے به ډیر
کم کورونه وو . چرته چه سنګری کوهے
ویستلے وی او ډک کړے ئے نهٔ وی . بیه
هر طور ورمه ورځ چه هغه دیو ډیر
زوړ او ژوړ کوهي د ډکولو په څه
وراغے او په کار بوخت شو، نو
د ژوند د کرکړي رورین لے
بیاسته پرے اوشلیده
او سر د لاندے
پریوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چنده

توبه خدایه توبه ..... دجمات امام او بیا دجماته غلا ـ

یوه ! د نهٔ منلو خبره ده . نو .... ګوجر لالا ټول کلې په

یوه پینبه کړو . څه که هم مولانا صیب د خپلې بې ګناهئ

ډیر دیلونه وړاندې کړل . ولې ګوجر لالا چه دخلقو

په مزغو کښې کوم زهر خوارهٔ کړي وو . دهغې په

پرتله د مولانا صیب خبرو ځائې او نهٔ نیوهٔ

ځکه نو د شپې شپې اووت او خپلې سیمې

ته اوکشید . لږ مې ورځې پس ئې په

ګادي کښې یو ملک اولید چه هم مغه

بیرته ئې په نوکرئ کښې ایښے

چندهٔ غواړی . کوم چه د جمات

نه د سو زرو روپو سره

پټ شوې وو . مولانا صیب ملک او پیژند چه

داخو هم مغه د ګوجر لالا زوئې دې چه د ده ځې

د راتښتو لې ما شومې سره د نکاح نه انکار کړې

وو . ولې مولانا صیب نه څه

کولې شو او نهٔ څه

وئیلې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورخته

غیرت خان دخپل ننګر نه پیر لرے وتے وو ـ ساه ئے په
ګونو راماته وه ـ مخ په بره د درے څوکنړئ ته لا نیمه
لار پاتے وه چه دے کښے پرے دیو ارخ نه "پنجو"
را او دانګل او دواړه ارلیچے برلیچے شول ـ نزدے
وه چه غیرت خان ترے په تیښته کښے
بریالے شوے وو ـ خو پنجو په خپلو
منګرو غږ اوکړو ـ

چه ما هم مړکړئ خو چه دے
درنه ژوندے لاړ نه شی
منګر دے ئے هم مغښے اوکړل
پنجو خو د غیرت سره ځان
په تورو نیم کړو
ولے په خپل قام ئے
د مغل ورخته
په شا
کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپلونه

ریشماں تہ چہ راغلے میلمنے د زوزاد بندئ

پیغام د "الف" نہ تر "ی" پورے

واورولو نو د مغے پہ زرکو سترگو کنیے

غتیے غتیے اوښکے راغلے ۔

او میلمنے تہ ئے پہ ژړغونی

آواز اووئیل ۔

خورے ستا نہ ځارشم

خوشنړی غوزانو

تہ څوک شپولونہ

نہ کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام څه په داسې ډول کیږي چه د لوستونکي ذهن تر ډیرې
اړو مرو خپل اثر اخلي او بنده په دې وینا مجبوره شي چه
دریاب په کوزه کښې سمندر بند کړے دے .

د علي خیل دریاب د قیمتي دا شکل که زمونږ په
ادب کښې خپل ساري لهتوي . نو ذهن د عبدالقادرخان خټک
په ګلدسته باندے تیکاوے کوي . "ګلدسته" د فارسي
ژبې د نوموړي نیکوال شیخ سعدي د ګلستان پښتو ترجمه ده.
کومه چې زمونږ د نثري ادب په ورومبو کتابونو کښې یوه
قیمتي ډالۍ یادیږي . او لکه څنګه چه د ګلستان حکایتونه
د شیخ سعدي د مشاهدے ، علم او فکر یوه بے بهاپانګه ده.
هم په دغه ډول بناغلی دریاب د خپل چاپیرچل او خوا وشا
نه داسے واقعات ، کردارونه او مشاهدے راخستے دي . او
په خوند خوند او رنګ رنګ ئے بیان کړي دي چه دوستونکے
ورته په داد ورکولو مجبور شي . زما د دے وینا نه دا مطلب
اخستل نهٔ دي په کار چه ګني زهٔ خپل شاګرد د سعد
غونډے د نړیئز ادبي شخصیت په مقابله کښې راودیستل غواړم
زما اشاره د دریاب د دے افسانچو اسلوب ته ده چه هغه
د بناغلي سعدي شیرازي د حکایتونو د طرز سره ډیر
سمون خوري .

"د ګل پانړے " د افسانچو انداز طنزیه دے او هره پیښه
هره واقعه او هر کردار پکښې په شعوري ډول د نیکونکي له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیرنه تولیه

والاکي یوه داسې خیرنه تولیه وه چې هرڅیا
به پرې د خپل شهوت ناولي لاسونه پاکول
او بیا به یې ماسخوتن تېر چې د بدۍ مرغه شفیق هم
په دغه مخه وراغلو ، نو سحر د مغ
دروند اینګر ته دغه خیرنه تولیه
ځانګیده . ولې د شل کاله
تېریدو باوجود هغه یو ځل
هم استعمال نه کړې
شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میراتله - کونډه

کریم او کلیم چه په چتۍ کښې راغلل - نو په غولی
کښې ئې د پرستنو صندوق اولیدو - کوم چه ئې
مور د صفائي په غرض رابهر کړے وو۔
دواړه ناپوهه ماشومان ورته ورادننل
او خپله ئې د صندوق سر رابند کړو
بیا څه وو ، ډیرے ترټقے ئې
او وهلے ، خو څوک چه کونډه
زړغوبنه د شتمنۍ ابۍ
د تپوس نه راتله
نو هغه میراته
شو ے هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بے روزګاری

---

ماسخوتن چه د چرګۍ په غاړه د ډوډۍ خوراک نه

وزګار شو - نو ادے رم د ټولو کشر ورور ته

او وے . "بچے موږ زده کړه ....موږ

....ګنی بیا به درلـه څوک ښځـه

نهٔ درکوی .

هغـه

زما بے روزګاره رایم - اے

انګلش) ورور تـه اوکتل

او ، اوے ویـُـل

ولے خان دادا

لـه هم موږ

نهٔ ورځی

ځـه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوارګر

زما نوم زهرا دے

د برکلي د شګلنې بانړے د طوطی کل لور

یم . پښتون کاله ورانډے چه پلار

د جوارئ په دوق باسللم . نو

کتلی جوارګر تر دے را اورسوالم

ماموں چه د چکلے په برنډه

تیاره کښې د خپلے سکه

خور پیشنه کلوا وکړه

نو هم د هغې په

غیږ کښې په

لوئے خوب

اوده

شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

I miss you so much.

دا د حیا نازولے احساس وو که د مینے انتها وه چه دوه کاله
مو په ځائے داړول خو ما د خپلو تودو جذباتو اظهار
ستا په وړاندے اونهٔ کړے شو - ولے اوس چه زمونږ د
د بیلتون ایله یوه هفته شوے ده - او زما د زغم
پړی پرے کیږی - نو په دے یېکلو مجبوره شوم
چه د ژوند په اوږده لارۀ زما ملګرتیا اوکړه
زهٔ یېخی یوازے یم اوکه تا زما لاس
اونهٔ نیوو - نو زهٔ به ورکه شم
ځکه چه

I miss you so much

دخوب په طمع - ستا پاغوندہ

نیک م اولوستلو ولے زهٔ حیران ووم چه نهٔ خو په یونیورسټی کښے
ما دغے جینئ ته چرته په خواږه سترګه کتلی وو - او نه م
ترننه داسے څه سوچ کړے دے - په دے چه زما په سر که
د پنځه خویندو د وړونو دروند پیټی دے ' او پښو کښے
م د دریو ورونړو د تعلیمی اخراجاتو زولنئ دی. نو
د ژوند په ازغنه لار د بے روزګارئ تګ هم
دے اوس تهٔ اووایه چه په
ما مینے تا ته څه
اولیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژرنده

دکله نه چه ناظرګے دخپلے ژرندے مالک شوے

دو ـ نوهم دهغه وخت نه به کله کله مشرخان پخپلو

اوبو دهغهٔ ژرنده ګرځوله ـ هم دارنګے بېرون

ماسخنتن تیرچه مشرخان پخپلو اوبو دناظرګی

ژرنده بنـهٔ اوګرځوله او واپس شو ـ نوځهٔ

ګودی چه ناظرګی هم دمشرخان به

ژرنده اوبه راسپے کړی دی۔

ناظرګے خوئے مرکړو او دخپلے

ژرندے ورونه ئے هم د

همیشه دپاره قرب

کړل ـ ولے نهٔ ئے

ګمان نه څه اوو

اونهٔ ئے د

ناظرګی ژرندے

ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلتالان

اکبر د صدیق استاد د مړه کور ودانه ایښی پروکه وو. ځکه چه
د هغه د دوښمنانو ځمکې د زوزاد نیالګی شنډ وو. د ریتیا ګرمنه
نه پس د هغه په ولۍ صدیق استاد تر کاله کړه. اګرچه
اکبر د میړه مور د بد سلوکۍ له وجې دے ته غاړه
نهٔ ایښوده خو پلار ئې پرے دا زهر په وچ زور
اوځښل. څو ورځې په قلار تیرے شوے.
خو ورمه ورځ چه اکبر کور ته راننوت
او پلار، مور ته ئې لاچی دانه په
مینز کیښوده. نو مور ئې ښکله د
ښویٔ د قهره تاو شوه
اکبر ته ئې د پلار په وړاندې هغه څه اووئیل چه سپی
هم په ژبه نه ایښو ده. بیا پاسیده او د اکبر
د واسکټ د جیبه ئې یوه توره ګوټۍ راواخسته.
وے ته ګوره. ځکه له شلتالان راوړی — او دے
سره ئې ګوټۍ پرانسته. چه پکښې
دوه درې هیر ریونګ کړیه پراته وو. بیا څهٔ
وو. زمکه چاودهٔ نه
او آسمان لړے وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مذهب که مینه پښتو

یاسمین زما په غیږ کښې سر کیښود او په سلګو سلګو ئے اووې

مونږ که د مذهب له رویه د ژوند ملګری نۀ شو جوړیدے

په دے چه یو ځائے موسېځ خوړلی دی ـ او د

مینې د دستور له مخه زمونږ بیلتون ناشونے

دے ـ ځکه نو د پښتو د روایاتو په

اروند زۀ تا ته خپله ځوانی

بخښنم ـ او ما هم په غیرشعوری

طور د هغې د نمبه نمبه

جذباتو د سر

نه خپله ځوانی

تاوُ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قاتل څوک دے؟

په دا سے حالت کښے چه بدرئی دنن او د سبا وه خوبیا پرے
هم خپلو مجبورو دخان ذکور رخن متونه کول ـ ماښام چه
تیاره لګیدله او شرق باران وو نو مغے موذی کال ته
اووے ـ سرپیه ! زۀ ستړے یم ـ که دا تیئ نه د
تیل زاوړه نو ډیره به چنه وی ـ شپه درنه
ده ـ او په لالټین کښے تیل نشته ـ دے
موذی کال دشکوره پښے راتاو کړے او مغر
ے په زور اتیئ ته اولیږله ـ بدرئ
د دوو اګو تیل په لوے شیشین
بوتل کښے واخسته او را روانه شوه
خو ګمات په شا چه مخ په بره راخته نو پښه ئے او خوئیده
را رتاو شوه او د شیشے بوتل ئے په خیټه کښے مات شو
په یو وخت دوه کسه قتل شوه . . . قاتل
څوک دے ؟ موذی کال ؟ ـ شیشیز بوتل ؟
که د یونین هغه ممبر چه پرکال
ئے زمونږ سره سره د بدرئ
نه هم د دے لارے د پخولو
په بهانه ووټ
اخستے وو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپیر

مالګیرخې زورور سړے وو - په بټ خیله کښې
ئے یو هندو راپتنګ کړو - ورته ئے وئیل
هلکه دا کلمه اووایه چه
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ" او
مسلمان شه - هندو پوهه شو - هغه
وئیل بنه دۀ - مسلمان شوم - کلمه
م اووے چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ محمّد
رّسول اللّٰه" خو اوس م دے
کلمې په معنیٰ مقصد او
فرائضو پوئے کړۀ - مالګین
وے یره په دے خو
زۀ پخپله نۀ پوهېږم -
هندو ورته د خندا
نه شین شو - ورته ئے
اووے نو بیا پۀ موږ
دوارو کښې "توپیر"
د څۀ دے -

# MENSES

زۀ ولاړ ووم - نیک عمل ډاکټر شفیع ته اووے! یړ کمالے

د زمری زوئے دے، څه کۀ هم د جمات سرۀ ئے ورانه دکا. غلا

ډاکه او جواری هسې و ګناه نۀ ګڼی، خو روژه خوړل

ورته کفر او بے غیرتی ښکاری - او هم دا وجه

دۀ چه خپله درے میاشتېزه ناوے ئے

په روژه خوراک اولیدۀ نو ورځے ترے

اوویست - ډاکټر شفیع اووے - زمرے

نه - خر دے - خر ځکه چه په

عذر کښے روژه خوراک نۀ بے غیرتی

دۀ او نۀ کفرُ او دهغے دمیډیکل

رپورټ نه معلومه شوے

دۀ چه دهغے عذر وو

او دغے عذر ته په

په ډاکټری اصطلاح کښے (Menses)

وائی - ډاکټر صاحب ماته مسکے

شو او نیک عمل مونږ ته

حیران حیران کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شین خالۍ

هغې چه به پخپلې ماتې بنیسنه کښې اوکتل . نو د
خندا نه به شنه شوه ـ اول اول زما خیال
وو . چه لیونئ کنی په ځان پورې
خاندی ، ولې نن چه ما شین خالۍ
د درنې کیدې سره اولیدله
نو پوهه شوم ـ چه
هغه په ځان پورې
نه بلکه په مونږ
پورې
خاندی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څادر

ګلرنګ نن بیا د څادر ذیل نیولے وو . د بے وسه
پلار چه نور وس اونهٔ رسید . نو بیا ئے پرے
راباندے کړه ، بس نهٔ ئے اووهو . د کور نه په
وتو کښے ئے د ځان سره اووے . ته ګورې!
د ے خپلے غریبئ ته نهٔ ګورې . زمونږ
د رزق درک نهٔ لګی او خان پکښے
څادرے غواړی . هلکه سرے
د خپل څادر سره پښے غزوی ګلرنګ
ورته په ژړا ژړا کښے اووے .
داجی چه څادر م نشته
نو پښے د څهٔ سره
او غزوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توبې بورجل

بیا بیا ګناه ــ بیا بیا پښیماني او بیا بیا
توبه - نه - بالکل نه ـ په ګمان
پوهه نه شوم ــ او خپل ځان ته م
د شرابو تش بوتل را اوغورځوو. زه
زخمي نه شوم . ولې ځانځان
په دیوال نګیں لې اینه سره
د بوتله چوری چوری
شوه - افسوس! چه
د توبې بورجل نه
وه ـ نو
ګناه به
څرته
وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعلیم

د یونیورسټۍ په میرج هال کښې مقدس صاحب
رانزدې شو ـ ویئل ئې هلکه سټا د وادۀ خو
ایله یو کال اوشو او د کور ودانې عمر د
هم ډیر کم ښکاری ـ ولې د نظر دا
چشمې ...... ماوې سر! څـه
تپوس ئې کوئ خو ـ سترګې ئې خو
ومې کور کښې "ایلفي" پرته وه
دې ویئل چورې دا د سترګو
تکې د ښې هغه ئې پکښې
اچولې وو ـ اوس..
.. مقدس صاحب
زما خبره
پریکړه
ویئل ئې ـ یره! تعلیم بـنـه
شې دې نو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابلیس

شیخ استاد د قصو سړے وو ـ یوه ورځ ئے ویل بیګا چه ځن
له راتلم نو باران وو ـ په څټو کښے راپریوتم ـ کور ته ستون شوم
جامے م مانځی کړے ـ را اووتم ـ خانه زاړه هډوکی دی ـ بیا راپریوتم
نو داخل م جامے ډیرے سخا شوے ـ بیا م ځان سم کړو ـ او
په دریم ځل چه را اووتم ـ نو بیا راګیل شوم ـ همسا
رانه هم چرته بے درکه شوه ـ واپس شوم
جامے م بدلے کړے او چه د کوره بهر شوم
نو یو ځوان زلمے ولاړ وو ـ ویل ئے بابا
راپښا شه ـ زه وریښا شوم او د جمات
په پیزار ځائے کښے ئے کوز کړم ـ ما
ورته اووے ، زلمیه ځان راسته
اوښایه ـ هغه ویل ـ بابا زه
ابلیس یم ـ ما ورته ووے چه ته
ابلیس ئے نو بیا دِ زه ولے
ته څنګه راوړم

هغه ووے ! یو ځل چه ته راپریوتے نو خدائے پاک ته اوبخښلے په دویم ځل ئے ستا اولاد اوبخښلو ، په دریم ځل ستا د خاندان بخښنه اوکړے شوه ـ ما ووے هسے نه چه په څلورم ځل راپریوځے او د ا ټول کلے اوبخښي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حوالدار فاتح رحمٰن

نیمه شپه ده - عثمان سپاهی په توده برستن کښې پټ خ
پروت حوالدار فاتح رحمٰن ته د سلوټ نه پس او وے
خان پاځئ - داغوا کیس دے - پرین ده زوروره !
کمره کښې ئے بند کړه - سحر له به کتے شي - او
بیا سحر وختی حوالدار فاتح رحمٰن د خپل ګونګی
زوئے په غیږ کښې د یو ماشوم لاش اوليد
څوک چه هم د دغه ګونګی ورور وو
په نوے واده شوے خور پسے
ئے بیګاه ژړل - ګونګی پسے
وړلو چه د مرګ کوے ته
لاړ - پته نشته چه د
اموخته خور ذیل مړ
کړو - که د پلار
د یخنئ
ظلم -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استادجي

بوياله په ژړا کورته رانغوځي. مور ئې
په غېږ کښې نيسي او پوښتنې ترې کوي. چه
چا اووهلې - هغه جواب ورکوي چه استادجي
ـــ يه! د استاد لاس مات شه چه
زما بوياله ئې اووهو . . . .
نه نه ادې ، داسې مه
وايه ، که زما د استاد
لاس مات شو. نو
بيا به ما ته
تختي څوک
کښـــــه
کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپک ملنګ

زۀ ولاړ ووم او ګیلګارانو کوټه سورووله
توپک ملنګ راغے ۔ وړے دے خلقو څـــهٔ
ګمان ځانی جوړه کړی دهٔ ــ خو په دے
غرونو دی لرګی کین دی ۔ یـوه
نوبـه کوټه دِ جوړه کړی او پـه
هـیر دِ وسیږی ۔ کـنـه ــ
ما وے ملنګه دومـــره
اوږ دهٔ او بږ دهٔ لـرګی
بـه لـه کومے راپیـدا
کړے ۔ هغه وے
ته دا سے خلق
پیدا کړه نو
لرګی زما
ذمه ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توخے

مازیګر موږ اوشو او موږ دجماعت سنه
راوتو ـ چه په کوڅه کښې ورزے شوے. خلق
منډے کړے ـ او موږ چه دمضبوط آکا
ورځ ته اورسیدو ـ نو درنګین اخرې
سلګئ وے ـ دشمال په پوښتنه
مضبوط آکا اووئیل ـ چه دے
ولے زما په ورځ کښې او توخید
هغه اووے بنه تا زما
تربوره ایله په توخئ مړ
کړو ـ مضبوط آکا
جواب ورکړو ـ
ځوانه
توخے توخے
بویه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرامات

دولے شهيد خواته د پلار لے د ټوپونو سره ګنړه جوړه وه ـ زهٔ
وراغلم ـ عبد ولي ، رحماني ګل ته او وے، خلق ليوني دي څه؟
چه دلته خپلے ګیا کانے ، تمانچے او پلاله امانتي ږدي ـ
بيګاه دغے اسپے چه څنګه ګياه له خله وروړې
دا نو زړه نکيږي او وختے دا ـ وه مے خبرے
اوريدو سره په ما هم غونے زيګ زيګ
شو او غوږونه م سپيره کړه ـ وے
اکرام لالاڼ مين په خندا شو ـ ما وے
ولے ته کرامات نهٔ منے څهٔ

هغه وے کرامات منم خو دا
اسپه کراماتو نه بلکه د
بجلۍ د دغے شاټ شوے
ستنے وژلې ده ـ او
ماچه اوکتل نو
نو اسپه د ستنيا
د بجلۍ ستنے
ته ږدې ه
شوې
وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نامه

زهٔ د کالهٔ په ورځ ورننوتم چه غانمتول، ملغلرے ته

اووے ـ شیطان شیطان! کوږ ـ هغے وے چپ شه شیطان

خو زما ابو دے، هغه څنګه؟ د غانمتول په تپوس ملغرے

اووے ـ بیګاه ماته ابو وئیل ـ ویښتهٔ پټ کړه

بانګ وائی ـ ګنی شیطان به دِ په سر

کښے متیازے اوکړی، ما وے ابو شیطان

کوم دے؟ هغوئ وئیل ته سترګے پټے

کړه او لږ ساعت پس چه ما سترګے

اوغړولے نو ویښته مِ لواندهٔ وو

په کمره کښے د ابو نه علاوه

هیڅوک نهٔ وو ـ ځکه نو

شیطان زما ابو دے ـ ما

چه د خپلے ډیر ماشومے

لور ملغلرے خبرے

واوریدے او بیا مِ په خپلو

اعمالو سوچ اوکړو نو

یقیناً ما سره هم د غه

"نامه" بنه لګی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایمل خان کانسی

ما چه ستا د سیټلو روایاتو په خاطر د خپل پلار
بدل واخستو - نو تا زهٔ د مرګ په سودا کړو
خرڅ کړم - بنه دې اوکړه ، او ډیر بنه دې
اوکړه - خو افسوس چه هغوئ ستا
متعلق دا نهٔ وې ویلي چه
د دې خاورې خلق خو به
څو ډالره خپله مور
هم وژنی - نو
زهٔ خو هسې مرم
و لې دومره
دردیدلے
به نهٔ
وم
مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسلمان

دکابل نه په واپسئ کښې يو دکان ته دچايو اختلو په غرض
وراغلم . دکاندار نه مې پوښتنه اوکړه چه څهٔ کړه مونږه خو دِ
پکښې نهٔ ده کړې . هغهٔ راته ښکته پورته اوکتل او
بيائې په فخريه انداز کښې اووئيل . ولې زهٔ
درته "مسلمان" ښکارم څه؟ زهٔ هندو
يم - هندو!

زما غوږونه سرهٔ شو . د پښتو
لاندې مې زمکه اوتښتيده.
او نهٔ يم پوهه چې
دکان نه کله
او څنګه راوتې
يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# MASTER KEY

شکر بخیلے " Master key " د ډیرو کورونو
جندرے بیرته کړے وے او بلا خونے ئے لوټ
کړے وے خو دا څلورم کال دے چه دخپل کالهٔ
پورے ورته ناست دے، ډیره لویه
خزانه ترے تالا شوے ده. ولے
نهٔ خو شکر دغه جندره
ماتولے شي او نهٔ
ئے دهغه
Master key
بیرته کولو
توان
لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کفاره

چند نن د ګور ګورے د قبر د سر خزه بشکل کړه. ځېل
رپيد ونګې لاسونه ئے او چت کړل - سلګو او نيوَځ
او په ژړغونې آوازئے اووئيل - ے
په سپينه خله روژه کړې ماته
د کفارے روژے به دواړه اونيسونه
ګورګورے! ما خو د ځان دپاره
توبه هم اوويستله - او د کفارے
روژے م هم اونيوے. ولے
نۀ پوهيږم چه ستا
دپاره دا کفاره
څنګه ......
څنګه ... او
څنګه ادا
کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پتهان آکا

زمرک چه پتهان آکا کورا قبرستان ته په دُعا اولید. نو

ورته ئې اووے" اکا دا څه کوې؟ ته خو عیسایانو

ته دُعا کوې. اکا ورته په غصّه کښې اووے.

نو بیا هغه ډاکټرانو ته دعا اوکړم څه؟ چه

د پلار د نا کامه پرېښن دپاره ئې په تا د ښځې

کالی کا نړه کړه ...... زه خو به

تل عمر دوی ته دعا کووم. څکه

چه زما د سترګو اپریشن

ئې بالکل هسې او

بے پېسو کړے

دے.....

اؤ.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان

ما د شیشې نه اېله هغه لیدلو - چې یو مې چې مخې پېغلې جینۍ

ورته څنګ پروت کوز کړو - هغه ئې په دواړو اوږو لاس کېښودل

بیا ئې یو لاس داوږې نه د هغې سینې نازکې لېچې ته راوړسوو

لېږه شیبه پس ئې دواړه لاس د هغې د راوتې سینې نه

تاو کړه - د غه شان په قلار قلار لاندې راغې.

او لاس ئې ورله بلې ګوتې ته راوړسوو - په یو

لاس ئې د پېغلې پښې اونیوه - او په بل لاس

ئې د هغې د پښې نه لاندې پازېب نه

شرنګ اووېست - "بس اوشو"....

اخترې پېغله رخصت کړه - ولې

زه په سوچ کښې پرېوتم - چې

ترا اوسه پورې په خومره

پېغلې هم په دې بښار کښې د فېشن بلا د فساد ونو

ښکار کړې وي - او خومره "اخترو"

به د خومره پېغلو نه هم د غسې

لاس تاو کړې وي - کاش

انسان

خو د دې نه په غار کښې

لغړ بربنډ وو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنۍ خصلتونه

دسوالي تبرچه غریبۍ د اوبو دے نارو غتۍ نه پس مړه کړه -او
په سود راخستے شوے روپۍ په استقاط کښے تقسیم شوے. خو
ماشوم زوئے ئے په هدیره کښے بل یو ماشوم اووے...
بچا نچه تاسو خو ماله د استقاط پیسے را نکړے -خو زما
موړ به مړی کنه؟ ته به زما نه پیسے اوویخم
...؟ ماورته وے چپ شه .خدائے دې...
..."بازدا" زما خبره پرے کړه -ویل ئے
داخو د هغه سړی زوے دے .چه پلار
ئے د لوږے نه مړشو او خپله د خلقو
په راوړو ډوډو موړ شو نو
مورته ئے اوویل -" ادے
مته به کله مړے چه
خلق زموږ کورونو ته
ډوډۍ راوړی ..." دے کښے دے غریب
ته څه ګناه ده - دا خو کورنۍ
خصلتونه دي - ځان د
سړه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکندر

هسې نو هغه د ښار د لوئے هسپتال لوئے ډاکټر وو.

او د ډېرو ئے هم يو لوئے پنځه ترلے وو. وے

نور غورځنګے وو. ګڼی په دومره ډيره تبـه

کښې به ئے سکندر ته وے انجکشن کولو

او هم دغه انجکشن په ډيرو سوالــونو

دعاګانو او منتونو پيدا شوے ايــکی يو

نيازبين سکندر د بابا د غيږ ے او شکوڅ

زۀ نۀ پوهيږم چه د ښار په دے

هسپتالونو کښې به د ورځے څو سوۀ

ماشومان لکه د سکندر پښان

د دے قصابانو لاپروائي

ښکــار

کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میلمه

سرپه ګوله وله – دزکوه ، کنی چیچي دی –

اوفو بنجے ! کورته راغلے میلمه په خپل غولی

کښیے اخرخنګه مرکړم – شراب درے

ملک مار مې نه کړو . خولن ساعت

پس مار ، شراب درے ملک

مې کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ممتاز

ممتاز بنځه موږ شتمنه او د خاورې خاوند وو - ولې چوارئ
د هر څه نه اوزګار کړې وو . د تيرو شلو کالو نه په
بازار کښې ګرځي او د يو عجيب سودا سره سم سوال
کوي .. د دکاندارانو نه پيسې اخلي او بيا په
ماشومانو ئې ويشي . يوه ورځ ترې ما پوښتنه
اوکړه چې د دې ځان له څه ځه چاوډون
کتلې دے . د دکاندارانو نه پيسې
اخلې او په ماشومانو ئې ويشې.
ممتاز د خندا نه شين شو.
ويل ئې ـ دنيا د ناپوهو
ده . د دويو ناپوهو نه
ئې اخلم او ورو ناپوهو
له ئې ورکوم . زه ممتاز ته ګوته په خله
ولاړ پاتې شوم او هغه
په وړاندې
روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیکوال پېژندګلو

نوم ـ بادشاه روم

د پلار نوم ـ

حاجي عبدالرحیم

ادبي نوم

علي خیل دریاب

د زوکړې ځاي او

نېټه :ـ

امان دره ملاکنډ اېجنسي

۲۱ مارچ سنه ۱۹۷۰ء

تعلیم :ـ بي ـ ایس سي

بي ایډ، ایم ـ اے پښتو ګولډ میډلسټ ـ ایم ـ فل ریسرچ فلو ـ پښتو څانګه

پېښور پوهنتون    کار :ـ لیکل، لوستل او لوستول

درک :ـ کلے او ډاکخانه امانده ملاکنډ اېجنسي فون ۲۹۷۰ ۱۰ ۱م ـ ۵۹۳۲۳

## دیکوال اثار :ـ

۱ـ د فرهنګیانی خوشحال د دستارنامے فرهنګ
۲ـ غوره خاځکي (مقالے) نثر
۳ـ بوسپکونه (〃) 〃
۴ـ سپلمۍ کښې کېښونه (محاورے) نثر
۵ـ پښتانهٔ او توهمات 〃
۶ـ د رحمان بابا اجتهاد 〃
۷ـ سباسیل په دامان دے (افسانے) 〃
۸ـ وزدانه (طنز و مزاح) 〃
۹ـ غوټے د تیغونه (تبصرے او مضمونونه) 〃
۱۰ـ شګے او زګونه (ترجمه) نثر
۱۱ـ شفق رنګه لارے (〃) 〃
۱۲ـ سپینے ځلے او ګل بنیرے 〃
۱۳ـ ګوړے د نے 〃
۱۴ـ عطرژن (نظمونه) شاعري
۱۵ـ غزل بنړ (غزلے) 〃
۱۶ـ غانټول 〃 〃
۱۷ـ همیشه ګلونه (تالیف) 〃

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**